# د سموئيل دوېم کِتاب

## پېژندګلو

د دوېم سموئيل کِتاب کښې د حضرت داؤد عليه السلام د بادشاهئ جوړېدل، غورزېدل او د بيا بحال کېدلو ذکر شوے دے. کله چې حضرت داؤد عليه السلام مُلک قبضه کوى او يهوديانو سره يوځائ کيږى، نو مونږ په هغهٔ کښې د خُدائ پاک سره وفادارى، فکرمندى، ايماندارى او ډاډګيرنه وينو. اګر چې خُدائ پاک حضرت داؤد عليه السلام له ډيرې کاميابئ ورکړې وې خو د اورِياه خِلاف او د بتسبع سره د ګناه نه پس هغه، د هغهٔ بادشاهى او د هغهٔ د خاندان په مسئلو کښې راګير شول. د هغهٔ زوئ ابىسلوم د هغهٔ خلاف سخت بغاوت وکړو. نو حضرت داؤد عليه السلام چې د خُدائ پاک زړهٔ ته ډير نزدې وو، او هغه يو توبه ګار او دُعاګو انسان وو. د زبور زياته حِصه هغهٔ په خپله ليکلى ده. په اووَم باب کښې چې خُدائ پاک د حضرت داؤد عليه السلام سره کوم لوظ وکړو چې، تهٔ به همېشه په بچو کښې پته يې او ستا بادشاهى به همېشه دپاره قائمه ساتم، ستا بادشاهت به هيڅکله نهٔ ختميږى نو دغه شان د خُدائ پاک دا لوظ د حضرت عيسىٰ مسيح دُنيا ته د راتلو سره پوره شو. د حفظ کولو دپاره ۲۲:۷ آيت ”مالِکه خُدايه پاکه، تهٔ څومره لوئ يې، ستا په شان بل هيڅ څوک هم نشته، مونږ ته همېشه دا پته ده چې صِرف تهٔ خُدائ پاک يې.“

## د حضرت داؤد د ساؤل د مرګ نه خبرېدل

١ ۝١ د ساؤل د مرګ نه پس چې داؤد په عماليقيانو فتح ومونده نو راغلو او دوه
ورځې په صِقلاج کښې ايسار شو. ۝٢ په درېمه ورځ د ساؤل د کيمپ نه يو زلمے

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

راورسېدو. د دې دپاره چې خپل غم څرګند کړی، هغهٔ خپلې جامې شلولې وې او په سر
يې خاورې اچولې وې. کله چې هغه داؤد له راغلو نو د عزت نه ټيټ شو او پړمخې په
زمکه پرېوتو. ۳ داؤد ترې نه تپوس وکړو، "تهٔ د کوم ځائ نه راغلے يې؟" هغهٔ ورته
ووئيل، "زهٔ د بنی اِسرائيلو د کيمپ نه راتښتېدلے يم." ۴ داؤد ورته وفرمائيل، "ما ته
ووايه چې څهٔ شوی دی." هغهٔ جواب ورکړو، "زمونږ فوجيان د جنګ نه راتښتېدلی دی
او زمونږ ډېر سړی وژلے شوی دی. ساؤل او د هغهٔ زوئ يونتن هم وژلے شوی دی."
۵ داؤد ترې نه تپوس وکړو، "تا ته څهٔ پته ده چې ساؤل او يونتن مړهٔ شوی دی؟" ۶
هغهٔ جواب ورکړو، "د جِلبوعه په غرهٔ باندې داسې وشول او ما وليدل چې ساؤل په خپله
نېزه باندې تکيه لګولې وه او د دشمن جنګی ګاډی او په آسونو سوارهٔ فوجيان ورنزدې
کېدل. ۷ بيا هغه راوګرځېدو او زهٔ يې وليدم او را وې غوښتم. ما ورته ووئيل چې زهٔ
حاضر يم. ۸ هغهٔ زما نه تپوس وکړو چې تهٔ څوک يې، نو ما ورته ووئيل چې زهٔ د
عماليقی قبيلې يم. ۹ بيا هغهٔ ووئيل چې دلته راشه او ما ووژنه. ځکه چې زما ځنکدن
دے خو زهٔ تر اوسه پورې ژوندے يم. ۱۰ نو زهٔ هغهٔ له ورغلم او ومې وژلو، ځکه چې
ما ته پته وه چې څنګه وغورزېږی نو هغه به مړ شی. بيا ما د هغهٔ د سر نه تاج او د هغهٔ د
لاس نه بنګړے واخستلو او صاحِبه، تا له مې راوړل." ۱۱ داؤد د غم نه خپلې جامې
وشلولې او د هغهٔ ټولو سړو هم دغه شان وکړل. ۱۲ هغوئ په غم غمژن شول او تر
ماښامه پورې يې د ساؤل، يونتن او بنی اِسرائيلو دپاره روژه ونيوله کوم چې د مالِک
خُدائ د لښکر خلق وُو، ځکه چې دا خلق په جنګ کښې مړهٔ شوی وُو. ۱۳ داؤد د هغه
زلمی نه تپوس وکړو کوم چې هغهٔ له دا خبر راوړے وو چې، "تهٔ د کوم ځائ يې؟" هغهٔ
ورته ووئيل، "زهٔ يو عماليقے مسافر يم، خو زهٔ ستا په مُلک کښې اوسېږم." ۱۴ داؤد
ترې نه تپوس وکړو، "تا دا جرأت څنګه وکړو چې د مالِک خُدائ خوښ کړے شوے
بادشاه دې ووژلو؟" ۱۵ بيا داؤد خپل يو سړے راوغوښتلو او ورته يې ووئيل، "هغه
ووژنه." نو هغه سړی عماليقے ووهلو او هغه په ټکی مړ شو، ۱۶ او داؤد هغه عماليقی
ته وفرمائيل، "خُون دې د خپلې غاړې دے. تا په خپله د ځان سره دا بد وکړل چې تا دا

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خبره وکړه چې تا د مالِک خُدائ خوښ کړے شوے بادشاه ووژلو."

## د حضرت داؤد د ساؤل او د یونتن دپاره د غم سندره وئیل

۱۷ داؤد د ساؤل او د هغهٔ زوئ یونتن دپاره دا د غم سندره ووئیله، ۱۸ او حُکم یې
وکړو چې دا د یهوداه خلقو ته وښودلے شی. هغهٔ په دې باندې د لیندې سندرې نوم
کېښودو، دا د یاشر په کِتاب کښې لیکلے شوې ده: ۱۹ "په غرونو باندې د بنی اِسرائیلو
عزتمند خلق مړهٔ شوی دی. زمونږ تکړه فوجیان غورزېدلی دی. ۲۰ په جات کښې دا
اِعلان مهٔ کوه او د اسقلون په کوڅو کښې هم دا اِعلان مهٔ کوه. د فلستیانو ښځې مهٔ
خوشحالوه، د غېرو قومونو لوڼه مهٔ خوشحالوه. ۲۱ د جِلبوعه په غرونو باندې دې پرخه
او باران نهٔ ورېږی، د دې ځائ پټی دې همېشه شنړ وی. ځکه چې د تکړه کسانو ډالونه
هلته په بې‌عزتئ کښې پراتهٔ دی، د ساؤل ډال دې نور د تېلو سره نهٔ شی ځلولے. ۲۲ د
یونتن لینده د مرګ وه، د ساؤل تُوره بې‌رحمه وه، طاقتور یې غورزول او دشمن یې
وژلو. ۲۳ ساؤل او یونتن ډېر ښهٔ او خواږهٔ وُو، په ژوند کښې هم یو ځائ او په مرګ
کښې هم یو ځائ، د باز نه تېز وُو او د زمرو نه تکړه وُو. ۲۴ د بنی اِسرائیل ښځې د
ساؤل دپاره د غم ژړا کوی. هغهٔ تا ته سرې ښې جامې درواغوستلې او په کالو او سرو
زرو یې ښائسته کړې. ۲۵ تکړه فوجیان غورزېدلی دی، هغوئ په جنګ کښې وژلے
شوی دی. یونتن په غرونو کښې مړ پروت دے. ۲۶ زما وروره یونتنه، زهٔ ستا په غم
غمژن یم، تهٔ په ما باندې ښومره ګران وې. ستا مینه زما دپاره ښومره ښهٔ وه، د ښځو د
مینې نه هم ښهٔ وه. ۲۷ تکړه فوجیان غورزېدلی دی، د هغوئ وسلې تباه شوې دی."

## د حضرت داؤد د یهوداه بادشاه جوړېدل

۲ ۱ د دې نه پس، داؤد د مالِک خُدائ نه تپوس وکړو، "زهٔ لاړ شم څهٔ چې د یهوداه

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

یو ښار قبضه کړم؟“ مالِک خُدائ ورته وفرمائيل، ”آو، لاړ شه.“ داؤد ترې نه تپوس
وکړو، ”کوم يو قبضه کړم؟“ مالِک خُدائ ورته وفرمائيل، ”حبرون.“ ۲ نو داؤد
حبرون ته لاړو، خپلې دوه ښځې يې هم د ځان سره بوتلې، اخينوعم چې د يزرعيل وه او
ابیجیل چې د نابال کونډه وه، چې هغه د کرمل وو. ۳ هغۀ خپل سړی او د هغوئ
خاندان هم د ځان سره بوتلل او د حبرون نه ګېرچاپېره په ښارونو کښې ديره شول. ۴
بيا د يهوداه سړی حبرون ته راغلل او داؤد يې د يهوداه د بادشاه په توګه مقرر کړو. کله
چې داؤد خبر شو چې په جِلعاد کښې د يبيس خلقو ساؤل ښخ کړے دے، ۵ هغۀ هلته
يو څو سړی د دې پېغام سره ولېږل، ”مالِک خُدائ دې تا له برکت درکړی څکه چې تا
خپل بادشاه ته وفاداری ښودلې ده چې هغه دې ښخ کړے دے. ۶ نو مالِک خُدائ دې
په تا مِهربانه شی او تا ته دې خپله وفاداری وښائی. تا چې څۀ کړی دی نو د هغې په
وجه به زۀ هم تا سره ښۀ سلوک وکړم. ۷ تکړه او بهادر شه. ستاسو بادشاه ساؤل مړ
دے او د يهوداه خلقو زۀ د بادشاه په توګه مقرر کړے يم.“

## د اشبوست د بنی اِسرائيلو بادشاه جوړېدل

۸ خو د ساؤل د لښکر مشر د نير زوئ ابنير د ساؤل د زوئ اشبوست سره تښتېدلے
وو او محنايم ته د اُردن نه پورې وتے وو. ۹ هلته ابنير اشبوست د دې علاقو بادشاه
جوړ کړو يعني د جِلعاد، آشر، يزرعيل، اِفرائيم او بنيامين او په حقيقت کښې د ټول
اِسرائيل بادشاه يې جوړ کړو. ۱۰ هغه د څلوېښتو کالو وو چې هغه د اِسرائيل بادشاه
جوړ شو او دوه کاله يې بادشاهی وکړه. خو د يهوداه قبيلې خلق د داؤد وفادار وُو، ۱۱
او هغۀ په يهوداه باندې په حبرون کښې اووۀ کاله او شپږ مياشتې بادشاهی وکړه.

## د بنی اِسرائيل او د يهوداه په مينځ کښې جنګ

۱۲ ابنير او د اشبوست آفسران د محنايم نه د جبعون ښار ته لاړل. ۱۳ يوآب چې د

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغۀ مور ضرویاه وه او د داؤد نور آفسران د هغوئ سره د ډنډ سره مِلاو شول، چرته
چې هغوئ ټول کښېناستل، يوه ډله د ډنډ په يو طرف او بله ډله د ډنډ په بل طرف ناسته
وه. ۱۴ ابنير يوآب ته ووئيل، "راځئ چې د دواړو طرفونو نه يو څو زلمی واخلو چې
دوئ په خپلو کښې زمونږ په وړاندې لاس په لاس جنګ وکړی." يوآب ورته ووئيل،
"بلکل ټيک ده." ۱۵ نو دولسو سړو چې کومو د اشبوست او د بنيامين د قبيلې
نمائندګی کوله، د داؤد دولسو سړو سره لاس په لاس جنګ وکړو. ۱۶ هر يو سړی خپل
مخالف د سر وېښتو نه ونيولو او په خپل مخالف سړی کښې يې تُوره دننه کړه، نو داسې
ځليريشت واړه په يو ځائ وغورزېدل او مړۀ شول. نو په جبعون کښې هغه ځائ د "د
تُورو ميدان" په نوم ياديږی. ۱۷ بيا سخت جنګ شروع شو او ابنير او بنی اِسرائيلو د
داؤد د سړو نه شکست وخوړو. ۱۸ د ضرویاه درې زامن هلته وُو، يوآب، ابيشے او
عساهيل. عساهيل د ځنګلی هوسۍ په شان تېزه منډه وهلے شوه، ۱۹ هغه په ابنير پسې
روان شو او سيدها يې په هغۀ پسې منډې وهلې. ۲۰ ابنير چې په شا وکتل نو وې وئيل،
"عساهيله، دا تۀ يې؟" هغۀ جواب ورکړو، "آو، دا زۀ يم." ۲۱ ابنير ورته ووئيل، "ما پسې
مۀ راځه. په يو بل فوجی پسې منډه کړه او چې د هغۀ سره څۀ وی هغه ترې نه واخله."
خو عساهيل وريسې روان وو. ۲۲ ابنير يو ځل بيا هغۀ ته ووئيل، "ما پسې مۀ راځه. تۀ
ما دې ته ولې مجبوروې چې ودې وژنم؟ زۀ به ستا ورور يوآب ته څنګه مخامخ کېږم؟"
۲۳ خو عساهيل نۀ منع کېدو، نو ابنير د خپلې نېزې د بېخ سره هغه په خېټه داسې
ووهلو چې نېزه د هغۀ نه شاته ووتله. عساهيل په زمکه وغورزېدو او په ټکی مړ شو او
چې هر څوک هغه ځائ ته راتلل چې چرته هغه پروت وو نو هلته ايسارېدل او ودرېدل.
۲۴ خو يوآب او ابيشے په ابنير پسې روان شول او نمرپرېواتو په وخت هغوئ د امه
غرۀ ته ورسېدل، کوم چې د جبعون صحرا په لاره د جياح نمرخاتۀ طرف ته دے. ۲۵ د
بنيامين د قبيلې خلق يو ځل بيا د ابنير نه راتاو شول او د يو غرۀ په سر باندې ودرېدل.
۲۶ ابنير يوآب راوغوښتو او ورته يې ووئيل، "مونږ به د تل دپاره جنګ کوُو څۀ؟ تا ته
پته نۀ لګی څۀ چې د دې اَنجام به ډېر خراب وی؟ مونږ ستاسو اِسرائيلی ورونه يُو. خو

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغه وخت به کله وی چې تهٔ خپلو سړو له حُکم ورکړې چې په مونږ پسې نهٔ راځی؟“ ۲۷
يوآب ورته ووئيل، ”زهٔ په ژوندی خُدائ پاک قسم خورم، کهٔ تا خبرې نهٔ وے کړې نو
زما سړی به تر سبا سحره پورې په تا پسې درتللے.“ ۲۸ بيا يوآب خپلو سړو ته بيګل د
نښې په توګه وغږولو چې هغوئ نور په بنی اِسرائيلو پسې نهٔ ځی، نو داسې جنګ بس
شو. ۲۹ ابنير او د هغهٔ سړو په هغه ټوله شپه د اُردن په ميدان کښې مزل وکړو، هغوئ د
اُردن سيند نه پورې وتل او په ورپسې ټول سحر مزل کولو نه پس، هغوئ واپس محنايم
ته ورسېدل. ۳۰ کله چې يوآب په هغوئ پسې نور نهٔ تلو، هغهٔ خپل ټول سړی راغونډ
کړل او پته ورته ولګېده چې د عساهيل نه علاوه، نولس کسان غيب وُو. ۳۱ خو د داؤد
سړو د بنيامين قبيلې د ابنير درې سوه شپېتهٔ سړی وژلی وُو. ۳۲ يوآب او د هغهٔ سړو د
عساهيل لاش واخستلو او په بيت‌لحم کښې د خپل خاندان په قبر کښې يې ښخ کړو. بيا
هغوئ ټوله شپه مزل وکړو او سحر وختی حبرون ته واپس ورسېدل.

۳ ۱ کومو فوجيانو چې د ساؤل د خاندان ملګرتيا کوله او چا چې د داؤد ملګرتيا
کوله د هغوئ په مينځ کښې تر ډېرې مودې پورې جنګ جاری وو. داؤد چې څومره
زيات تکړه کېدو نو مخالفين يې دومره کمزوری کېدل.

## د داؤد زامن

۲ په حبرون کښې د داؤد دا زامن پيدا شول: د هغهٔ مشر زوئ امنون وو، چې د هغهٔ
مور د يزرعيل اخينوعم وه، ۳ د هغهٔ دويم زوئ کِلياب وو، د هغهٔ مور ابی‌جيل د کرمل
د نابال کونډه وه، دريم زوئ يې ابی‌سلوم وو، د هغهٔ مور معکه د جسور بادشاه تلمی لور
وه، ۴ څلورم ادونياه وو چې د هغهٔ مور حجيت وه، پينځم سفطياه وو، چې د هغهٔ مور
ابيطال وه، ۵ شپږم زوئ يې اِترعام وو چې د هغهٔ مور عِجلاه وه. د هغهٔ دا ټول زامن
په حبرون کښې پيدا شوی وُو.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د ابنير د حضرت داؤد سره ملګرتيا کول

۶ کله چې د داؤد د فوجيانو او د هغه فوجيانو په مينځ کښې جنګ جارى وو کومو
چې د ساؤل د خاندان ملګرتيا کوله، نو ابنير د ساؤل ملګرو کښې نور هم زيات تکړه
کېدو. ۷ يوه ورځ د ساؤل زوئ اشبوست په ابنير اِلزام ولګولو چې تۀ د ساؤل د
وينځې د آيه د لور رِصفخ سره ځملې. ۸ په دې باندې ابنير سخت غصه شو. هغۀ
ووئيل، "ستا خيال دا دے څۀ چې زۀ به د ساؤل سره بې‌وفائى وکړم؟ ستا خيال دا دے
چې زۀ د يهوداه سپے يم؟ زۀ د شروع نه ستا د پلار ساؤل، د هغۀ ورونړو او د هغۀ د
دوستانو وفادار يم او ما تۀ د داؤد د شکست نه بچ کړے يې، خو نن تۀ په ما کښې د يوې
ښځې په حقله غلطى لټوې. ۹-۱۰ مالِک خُدائ د داؤد سره لوظ وکړو چې هغه به د
ساؤل او د هغۀ د اولاد نه بادشاهى واخلى او داؤد به د بنى اِسرائيلو او د يهوداه دوارو
قبيلو بادشاه جوړ کړى، هغه به د مُلک د يو سر نه تر بل سر پورې بادشاه وى. نو مالِک
خُدائ دې ما ووهى کۀ ما دا خبره رښتيا نۀ کړه." ۱۱ اشبوست د ابنير نه سخت يرېدو
او يوه خبره يې هم نۀ شوه کولے. ۱۲ ابنير داؤد له پېغام وړُونکى ورولېږل، چې هغه په
هغه وخت کښې په حبرون کښې وو، چې داسې ورته ووائى، "په دې مُلک به څوک
بادشاهى کوى؟ زما سره يو تړون وکړه او زۀ به ستا مدد وکړم چې ټول بنى اِسرائيليان
په بادشاه جوړېدو کښې ستا ملګرتيا وکړى." ۱۳ داؤد ورته وفرمائيل، "ټيک ده. زۀ به
تا سره په يو شرط باندې تړون وکړم. کله چې تۀ ما سره مِلاوېدو له راځې نو تۀ به ما له
خامخا د ساؤل لور ميکل راولې." ۱۴ او داؤد اشبوست له هم پېغام وړُونکى ولېږل چې
ورته ووائى، "ما له خپله ښځه ميکل واپس راکړه. ما د هغې د وديو دپاره سل فلستيان
وژلى دى." ۱۵ نو اشبوست هغه د خپل خاوند د ليس زوئ فلطى‌ايل نه بوتله. ۱۶
فلطى‌ايل په هغې پسې د بحوريم ښار پورې روان وو او ژړل يې. خو چې کله ورته ابنير
ووئيل چې، "واپس کور ته لاړ شه،" نو هغه لاړو. ۱۷ ابنير د بنى اِسرائيلو مشرانو له لاړو
او ورته يې ووئيل، "د ډېر وخت نه تاسو غوښتل چې داؤد ستاسو بادشاه شى. ۱۸ نو

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

اوس تاسو سره دا موقع شته. ياد ساتئ چې مالِک خُدائ فرمائيلى دى، زۀ به د خپل
خِدمت کوونکى داؤد نه کار واخلم چې زما خلق بنى اِسرائيليان د فلستيانو نه او د هغوئ
د ټولو دشمنانو نه بچ کړى." ۱۹ ابنير د بنيامين قبيلې خلقو ته هم ووئيل او بيا حبرون
ته لاړو چې داؤد ته ووائى چې د بنيامين قبيله او بنى اِسرائيل داسې کولو ته راضى شوى
دى. ۲۰ کله چې ابنير په حبرون کښې داؤد له د شلو سړو سره راغلو، نو داؤد هغوئ له
يوه مېلمستيا وکړه. ۲۱ ابنير داؤد ته ووئيل، "ما پرېږده چې اوس زۀ لاړ شم او ټول بنى
اِسرائيليان زما نېک يعنې بادشاه له راغونډ کړم چې تا سره تړون وکړى. هغوئ به تا
بادشاه ومنى، نو بيا به تا ته هغه څۀ مِلاو شى چې تا څۀ غوښتل او په ټول مُلک به
بادشاهى کوې." نو داؤد ابنير پرېښودو او هغه په خير سره لاړو.

## د ابنير مرګ

۲۲ وروستو يوآب او د داؤد نور آفسران د يو حملې کولو نه راغلل او د ځان سره يې
ښۀ ډېر مالِ غنيمت راوړو. ابنير د داؤد سره هلته په حبرون کښې نۀ وو، ځکه چې داؤد
هغه په خير سره لېږلے وو. ۲۳ کله چې يوآب او د هغۀ سړى راورسېدل، نو هغه خبر
شو چې ابنير داؤد بادشاه له راغلے وو او په خير سره لېږلے شوے وو. ۲۴ نو يوآب
بادشاه له لاړو او هغۀ ته يې ووئيل، "دا تا څۀ کړى دى؟ ابنير تا له راغلے وو، نو تا هغه
داسې ولې پرېښودو؟ ۲۵ هغه دلته ستا دوکه کولو دپاره راغلے وو او چې دا پته ولګوى
چې تۀ څۀ څۀ کوې او چرته ځې. په حقيقت کښې تا ته دا پته ده." ۲۶ د داؤد د تلو نه
پس، يوآب پېغام وړُونکى ولېږل چې ابنير راولى او هغوئ هغه د سيره د کوهى نه
راوستلو، خو داؤد د دې نه بېخى خبر نۀ وو. ۲۷ کله چې ابنير حبرون ته ورسېدو، نو
يوآب هغه د دروازې سره يو طرف ته بوتلو، داسې معلومېده لکه چې يوآب د هغۀ سره
څۀ پټه خبره کوى او هلته يې هغه په خېټه باندې ووهلو. نو داسې ابنير ووژلے شو ځکه
چې هغۀ د يوآب ورور عساهيل وژلے وو. ۲۸ کله چې داؤد دا خبر واورېدو، نو هغۀ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وفرمائيل، ”مالِک خُدائ ته زما او زما د خلقو پته ده چې د ابنير د ووژلو په وجه بېخى
بېګناه يُو. ۲۹ د دې سزا دې په يوآب او د هغۀ په مکمل خاندان راشى. د هغۀ د خاندان
په هر نسل کښې دې داسې سړى وى چې د هغوئ د ذکر نه منى څى يا جذامى وى يا
ښځونک، يا په جنګ کښې مړۀ شى يا د هغوئ سره د خوراک کمے وى.“ ۳۰ نو
داسې يوآب او د هغۀ ورور ابيشى د ابنير نه بدل واخستلو ځکه چې هغۀ د جبعون په
جنګ کښې عساهيل د هغوئ ورور وژلے وو.

## د ابنير ښخېدل

۳۱ بيا داؤد يوآب او د هغۀ سړو له حُکم ورکړو چې خپلې جامې وشلوئ، د ټاټ جامې
واغوندئ او په ابنير ماتم وکړئ. او د جنازې سره داؤد بادشاه په خپله د تابوت نه
وروستو روان وو. ۳۲ ابنير په حبرون کښې ښخ شو او بادشاه په چغو چغو د قبر سره
وژړل او ټولو خلقو هم وژړل. ۳۳ داؤد د ابنير دپاره دا د غم سندره ووئيله، ”ابنير دې د
يو کم عقل په شان ولې مړ شى؟ ۳۴ ستا لاسونه نۀ وُو تړلى، او ستا پښې نۀ وې تړلې، تۀ
داسې مړ شو لکه چې چا مجرم وژلے وى.“ او خلقو د هغۀ دپاره بيا وژړل. ۳۵ ټوله
ورځ خلقو کوشش کولو چې په داؤد باندې څۀ وخورى، خو هغۀ پوخ لوظ وکړو، ”خُدائ
پاک دې ما هلاک کړى چې د ورځې د ختمېدو نه مخکښې زۀ څۀ وخورم.“ ۳۶ نو
خلقو ته پته ولګېده او خوشحاله شول. په حقيقت کښې بادشاه چې څۀ هم کول نو خلق
ترې نه خوشحالېدل. ۳۷ د داؤد او د بنى اِسرائيل ټولو خلقو ته دا پته ولګېده چې
بادشاه د ابنير په وژلو کښې هيڅ برخه نۀ ده اخستې. ۳۸ بادشاه خپلو درباريانو ته
ووئيل، ”تاسو ته پته نۀ لګى چې نن په بنى اِسرائيلو کښې يو لوئ مشر مړ شوے دے؟
۳۹ اګر چې زۀ بيا هم هغه بادشاه يم چې خُدائ پاک خوښ کړے يم، نن زۀ خپل ځان
کمزورے ګڼم او د ضرويا دا زامن قابو کولے نۀ شم. مالِک خُدائ دې، دې مجرمانو
له سزا ورکړى لکه چې څنګه دوئ د سزا حقدار دى.“

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

# د اشبوست مرګ

۴ ١ کله چې د ساؤل زوئ اشبوست دا واورېدل چې ابنير په حبرون کښې قتل
شوے دے، نو هغۀ خپله حوصله بائيله او ټول بنی اِسرائيليان وېرېدل. ٢ د اشبوست
دوه آفسران ؤو کوم چې د لښکرو مشران ؤو، د هغوئ نومونه بعنه او ريکاب ؤو، هغوئ
د رِمون زامن ؤو چې هغه د بنيامين د قبيلې د بيروت نه وو. بيروت د بنيامين حِصه
ګڼلے شی. ٣ د دې اصلی اوسېدونکی جيتم ته تښتېدلی ؤو چرته چې هغوئ تر نن
ورځې پورې د مسافرو په شان اوسيږی. ٤ د ساؤل بل اولاد د يونتن زوئ مفيبوست
په پښو شل وو، هغه د پينځو کالو وو چې ساؤل او يونتن قتل شو. کله چې د يزرعيل
ښار نه د هغوئ د مرګ خبر راورسېدو، نو د هغۀ داينې هغه واخستلو او وتښتېدله، خو
هغه دومره په تيزئ کښې وه چې هغه يې وغورزولو او هغه شل شو. ٥ ريکاب او بعنه
د اشبوست کور ته روان شول او په سره غرمه کښې هلته ورسېدل، هغۀ په دې وخت د
غرمې آرام کولو. ٦ کله چې هغه څوکيدارې ښځې غنم صفا کول نو هغه خوبَولې شوه
او اوده شوه، نو ريکاب او بعنه پټ دننه لاړل. ٧ هغوئ سمدستی د اشبوست کوټې ته
دننه لاړل، هلته هغه په خپل کټ کښې ملاست وو او هغوئ ووژلو. بيا هغوئ د هغۀ سر
پرې کړو، د ځان سره يې يوړو او په هغه ټوله شپه يې د اُردن په وادئ کښې مزل وکړو.
٨ هغوئ د هغۀ سر په حبرون کښې داؤد بادشاه ته پيش کړو او ورته يې ووئيل، "ستا
د دشمن د ساؤل زوئ اشبوست سر دا دے، چا چې ستا د وژلو کوشش کړے وو.
بادشاه سلامت، نن مالِک خُدائ تۀ پرېښے يې چې د ساؤل او د هغۀ د اولاد نه بدل
واخلې." ٩ داؤد هغوئ ته وفرمائيل، "زۀ په ژوندی مالِک خُدائ قسم خورم، چې هغۀ
زۀ د ټولو خطرو نه بچ کړے يم. ١٠ کوم پيغام وړونکے چې په صِقلاج کښې ما له
راغلو او د ساؤل د مرګ نه يې خبر کړم د هغۀ خيال دا وو چې ګڼې هغۀ يو زېرے
راوړے دے خو هغه ما ونيولو او ومې وژلو. هغۀ له ما په زېری کښې داسې اِنعام
ورکړو. ١١ تاسو بدعمله سړو د هغۀ نه هم زيات بد عمل کړے دے چې د هغۀ په خپل

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کور کښې یو بېګناه سړے مو په اودو وژلے دے. اوس به زۀ ستاسو نه د هغۀ د وژلو
بدله واخلم او زۀ به تاسو د زمکې د مخ نه لرې کړم." ١٢ نو داؤد حُکم وکړو او د هغۀ
فوجیانو ریکاب او بعنه ووژل او د هغوئ لاسونه او پښې یې پرې کړې، هغوئ دا په
حبرون کښې د تالاب سره نزدې راځوړند کړل. هغوئ د اشبوست سر واخستلو او هلته
په حبرون کښې یې د ابنیر په قبر کښې ښخ کړو.

## د حضرت داؤد د بنی اِسرائیلو او د یهوداه بادشاه جوړېدل

۵ ١ بیا په حبرون کښې د بنی اِسرائیل ټولې قبیلې داؤد ته راغلې او هغۀ ته یې ووئیل،
"مونږ ستا خپله وینه یُو. ٢ په تیره زمانه کښې، ترڅو چې ساؤل زمونږ بادشاه وو نو
تا په جنګ کښې د بنی اِسرائیلو مشری کوله او مالِک خُدائ تا ته وفرمائیل چې تۀ به د
هغۀ د خلقو مشرى کوې او د هغوئ بادشاه به یې." ٣ نو د بنی اِسرائیل ټول مشران په
حبرون کښې داؤد بادشاه له راغلل. داؤد د هغوئ سره لوظ وکړو، هغوئ د هغۀ سر په
تېلو غوړ کړو، نو هغه د بنی اِسرائیلو بادشاه شو. ٤ داؤد د دېرشو کالو وو چې هغه
بادشاه شو او هغۀ څلوېښت کاله بادشاهی وکړه. ٥ هغۀ په حبرون کښې په یهوداه
باندې اووۀ نیم کاله بادشاهی وکړه او په یروشلم کښې یې په ټول اِسرائیل او یهوداه باندې
درې دېرش کاله بادشاهی وکړه. ٦ هغه وخت راغلو چې داؤد بادشاه او د هغۀ سړی
په یروشلم باندې حملې کولو دپاره روان شول. کوم یبوسیان چې هلته اوسېدل د هغوئ
خیال دا وو چې داؤد به ښار فتح نۀ کړی، نو هغوئ هغۀ ته ووئیل، "تۀ به هیڅکله دننه نۀ
شې راتلے، ړاندۀ او شل دې هم بهر ایسارولے شی." ٧ خو داؤد د هغوئ د صیون
قلعه قبضه کړه او دا "د داؤد ښار" په نوم مشهوره شوه. ٨ په هغه ورځ داؤد خپلو
سړو ته ووئیل، "دلته داسې څوک شته چې هغه د یبوسیانو سره زما هومره نفرت لرى؟
دومره زیات چې هغوئ ووژنی؟ نو د اوبو په سورنګ کښې لاړ شئ او په هغه غریبو،
شلو او ړندو باندې حمله وکړئ." نو داسې دا یو متل جوړ شو، "شل او ړاندۀ د مالِک

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خُدائ کور ته نهٔ شی ننوتلے.“ ۹ د هغه قلعې قبضه کولو نه پس، داؤد په دې کښې
اوسېدو او ”د داؤد ښار“ نوم يې پرې کېښودو. هغهٔ د دې نه ګېرچاپېره ښار جوړ کړو، د
هغه ځائ نه يې شروع وکړه چرته چې د غرهٔ نمرخاتهٔ طرف ته زمکه په خاورو باندې
ډکه شوې وه. ۱۰ هغه وخت په وخت نور هم تکړه کېدو، ځکه چې مالِک خُدائ ربُ
الافواج د هغهٔ مل وو. ۱۱ د صور بادشاه حيرام داؤد ته يو کارويارى ډله ولېږله، هغهٔ له
يې د ترکاڼانو سره د نختر لرګى او د کاڼو ګِلکاران ورکړل چې يو محل جوړ کړى. ۱۲
نو داؤد ته پته ولګېده چې مالِک خُدائ دے د بنى اِسرائيلو بادشاه مقرر کړے دے او د
خپلو خلقو د خاطره يې خپله بادشاهى بختوره کوله. ۱۳ د حبرون نه يروشلم ته تلو نه
پس، داؤد نورې وينځې او ښځې وکړې او نور زامن او لوڼه يې پيدا شول. ۱۴ د هغهٔ دا
بچى په يروشلم کښې پيدا شوى وُو يعنې، سموع، سوباب، ناتن، سليمان، ۱۵ اِبحار،
اليسوع، نفج، يفيع، ۱۶ اليسمع، اليدع او اليفلط.

## په فلستيانو باندې فتح موندل

۱۷ کله چې فلستيان خبر شول چې داؤد د بنى اِسرائيلو بادشاه جوړ شوے دے، نو د
هغوئ ټول لښکر روان شو چې داؤد ونيسى. کله چې داؤد د دې نه خبر شو نو هغه لاندې
د يَخو ديوالونو ځائ ته لاړو. ۱۸ فلستيان د رفائيم وادئ ته راروسېدل او دا يې قبضه
کړو. ۱۹ داؤد د مالِک خُدائ نه تپوس وکړو، ”زهٔ په فلستيانو حمله وکړم څهٔ؟ تهٔ به ما
له فتح راکړې څهٔ؟“ مالِک خُدائ ورته وفرمائيل، ”آو، حمله پرې وکړه، زهٔ به تا له فتح
درکړم.“ ۲۰ نو داؤد بعل‌پراضيم ته لاړو او هلته يې فلستيانو له شکست ورکړو. هغهٔ
وفرمائيل، ”مالِک خُدائ زما د دشمنانو نه د سېلاب په شان ناڅاپه تېر شوے دے.“ نو
د هغه ځائ نوم بعل‌پراضيم شو. ۲۱ کله چې فلستيان وتښتېدل، نو هغوئ خپل بُتان شا
ته پرېښودل او داؤد او د هغهٔ سړو دا يوړل. ۲۲ فلستيان واپس د رفائيم وادئ ته لاړل او
دا يې بيا قبضه کړو. ۲۳ داؤد يو ځل بيا د مالِک خُدائ سره مشوره وکړه او هغهٔ ورته

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وفرمائيل، ”په هغوئ د دې ځائ نه حمله مهٔ کوه، خو د بل طرف نه ورباندې راتاو شه او
حمله پرې وکړه، چرته چې د تُوت ونې دی. ۲۴ کله چې تهٔ د تُوت د ونو په سرونو د
تګ آواز واورې، نو بيا حمله وکړه، زهٔ به ستاسو نه مخکښې روان يم د دې دپاره چې د
فلستيانو لښکر له شکست ورکړم.“ ۲۵ داؤد هم هغه شان وکړل چې څنګه مالِک خُدائ
حُکم کړے وو او فلستيان يې د جبعې نه تر جزر پورې قتل کړل.

## د لوظ صندوق يروشلم ته راوړل

۶ ۱ داؤد يو ځل بيا د بنی اِسرائيلو ښهٔ فوجيان راغونډ کړل چې ټول دېرش زره
سړی وُو، ۲ او هغوئ يې په يهوداه کښې بعله ته بوتلل، چې د هغه ځائ نه د خُدائ
پاک د لوظ صندوق راوړی چې دا صندوق د ربُ الافواج په نوم يادېږی، چې هغه د
وزرو والا مخلوق په مينځ کښې اوسيږی. ۳ هغوئ دا په غرهٔ باندې د ابيناداب د کور نه
واخستو او په يوه نوې ګاډۍ باندې يې کېښودو. د ابيناداب زامنو عُزه او اخيو ګاډۍ
روانه کړې وه، ۴ اخيو ورسره مخکښې روان وو. ۵ داؤد او ټول بنی اِسرائيليان
ګډېدل او د خپل ټول طاقت سره د مالِک خُدائ د درناوی دپاره يې حمدوثناء وئيله.
هغوئ بينجو، رباب، تمبل، چمټې او د ساز لوښی غږول. ۶ کله چې هغوئ د نکون
درمند ته راغلل، نو غويَی په غورزېدو شو او عُزه وروړاندې شو او د لوظ صندوق يې
قابو کړو. ۷ مالِک خُدائ، خُدائ پاک سمدستی عُزه ته په قهر شو او وې وژلو ځکه
چې هغهٔ په بې‌ادبۍ سره د لوظ صندوق له لاس وروړے وو. عُزه د لوظ صندوق په خوا
کښې مړ شو، ۸ نو تر ننه پورې د هغه ځائ نوم فارص‌عُزه دے. داؤد سخت خفه وو
ځکه چې مالِک خُدائ په غصه کښې عُزه له سزا ورکړې وه. ۹ داؤد د مالِک خُدائ
نه ويرېدو او وې فرمائيل، ”زهٔ اوس د لوظ صندوق ځان سره واپس څنګه يوسم؟“ ۱۰
نو هغهٔ دا فيصله وکړه چې هغه به دا د ځان سره يروشلم ته نهٔ وړی، نو هغه د لارې نه
واوړېدو او صندوق يې د عوبيد ادوم کور ته يوړو، چې هغه د جات د ښار وو. ۱۱ هغه

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

درې مياشتې هلته پروت وو او مالِک خُدائ عوبيد ادوم او د هغهٔ خاندان له برکت
ورکړو. ۱۲ داؤد بادشاه خبر شو چې مالِک خُدائ د لوظ صندوق په وجه د عوبيد
ادوم خاندان او د هغهٔ هر څهٔ له برکت ورکړے دے، نو هغهٔ د عوبيد ادوم د کور نه د
لوظ صندوق واخستلو چې د يو لوئ جشن سره يې يروشلم ته يوسی. ۱۳ کومو سړو
چې د لوظ صندوق وړلو هغه يو شپږ قدمه تلی ؤو، داؤد هغوئ ودرول او په دې دوران
کښې هغهٔ مالِک خُدائ ته د يو غوَيی او د يو څورب سخی قربانی پېش کړه. ۱۴ داؤد
صِرف د لټې يو پېش بند اغوستے وو او د خپل ټول طاقت سره د مالِک خُدائ د
درناوی دپاره ګډېدو. ۱۵ نو هغهٔ او ټولو بنی اِسرائيلو د چغو او د بيګل د آوازونو سره د
لوظ صندوق يروشلم ته يوړو. ۱۶ کله چې د لوظ صندوق ښار ته راروان وو، نو د
ساؤل لور ميکل د کړکۍ نه بهر وکتل او وې ليدل چې داؤد بادشاه د مالِک خُدائ په
وړاندې ګډېږی او ټوپونه وهی، نو هغې ته هغه سپک ښکاره شو. ۱۷ هغوئ د مالِک
خُدائ صندوق راوړو او په خيمه کښې يې په خپل ځائ باندې کېښودو چې داؤد ورله
جوړ کړے وو. بيا هغهٔ مالِک خُدائ ته سوزېدونکې نذرانې او د سلامتۍ نذرانې پېش
کړې. ۱۸ کله چې هغهٔ قربانۍ پېش کول ختم کړل نو هغهٔ د ربُ الافواج په نوم باندې
خلقو له برکت ورکړو ۱۹ او په ټولو باندې يې خوراک تقسيم کړو. هغهٔ د بنی اِسرائيلو
هر يو سړی او ښځې له يوه يوه غټه ډوډۍ، څهٔ کجورې او څهٔ کشمش ورکړل. بيا هر يو
کس کور ته لاړو. ۲۰ کله چې داؤد خپل کور ته لاړو چې خپل خاندان له مبارکی
ورکړی، نو ميکل مِلاوېدو دپاره ورله راووتله. هغې ووئيل، ”د بنی اِسرائيلو بادشاه خو نن
د ځان ښهٔ درناوے کړے دے. هغهٔ د خپلو درباريانو د وينځو په مخکښې د ليونی په
شان خپل ځان بېپردې کړے دے.“ ۲۱ داؤد ورته وفرمائيل، ”زهٔ د مالِک خُدائ په
مخکښې ګډېږم، چې هغهٔ ستا د پلار او د هغهٔ د خاندان په ځائ زهٔ خوښ کړم او د خپلو
بنی اِسرائيلو مشر يې جوړ کړم. نو ځکه زهٔ به د مالِک خُدائ د درناوی دپاره ګډېږم،
۲۲ او زهٔ به خپل ځان نور هم سپکوم. ستا خيال به دا وی چې زهٔ هيڅ هم نهٔ يم، خو د
دې وينځو په خيال کښې به زهٔ درونډ يم.“ ۲۳ نو د ساؤل د لور ميکل، تر مرګه پورې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

بچی نهٔ وُو.

## د حضرت داؤد دپاره د ناتن پېغام

۷ (۱) داؤد بادشاه په سکون سره خپل محل کښې اوسېدو او مالِک خُدائ هغه د خپلو
ټولو دشمنانو نه بې‌غمه کړے وو. (۲) يوه ورځ داؤد بادشاه ناتن پېغمبر ته وفرمائيل،
”زهٔ دلته په يو داسې کور کښې اوسېږم چې د دِيار د ونې نه جوړ دے، خو د خُدائ پاک
د لوظ صندوق په يوه خېمه کښې پروت دے.“ (۳) ناتن ورته وفرمائيل، ”چې څهٔ دې په
زړهٔ کښې وى نو هم هغه شان وکړه، ځکه چې مالِک خُدائ ستا مل دے.“ (۴) خو په
هغه شپه د مالِک خُدائ کلام په ناتن نازل شو، (۵) ”لاړ شه او زما خِدمت کوونکى داؤد
ته ووايه چې زهٔ داسې وايم چې تهٔ هغه څوک نهٔ يې چې زما دپاره د اوسېدو دپاره کور
جوړ کړې. (۶) د هغه وخت نه واخله چې ما بنى اِسرائيل د مِصر نه راوويستل تر اوسه
پورې زهٔ کله هم په يو کور کښې نهٔ يم اوسېدلے، ما د هغوئ سره سفر کولو او په يوه
خېمه کښې اوسېدم. (۷) د بنى اِسرائيلو سره په ټول سفر کښې ما د هغوئ مشرانو کښې
يو ته هم نهٔ دى وئيلى چې زما دپاره تاسو د دِيار کور ولې نهٔ دے جوړ کړے. (۸) نو زما
خِدمت کوونکى داؤد ته ووايه چې زهٔ ربُ الافواج هغهٔ ته وايم چې ما تهٔ په پټو کښې د
ګډو شپونتوب نه بوتلې او د خپلو خلقو بنى اِسرائيلو بادشاه مې جوړ کړې. (۹) تهٔ چې
چرته هم تلې نو زهٔ ستا مل وم او چې تهٔ مخ په وړاندې تلې نو ما ستا ټولو دشمنانو له
شکست ورکولو. زهٔ به ستا نوم د دُنيا د لويو مشرانو په شان مشهور کړم. (۱۰-۱۱) ما د
خپلو خلقو بنى اِسرائيلو دپاره يو ځائ خوښ کړے دے او ما هغوئ هلته آباد کړى دى،
چې هلته به نور هغوئ بغير د څهٔ تکليف نه ژوند تېروى. د کوم وخت نه چې هغوئ دې
مُلک ته ننوتلى دى، نو خراب خلق په هغوئ باندې حملې کوى، خو داسې به بيا نهٔ
کيږى. زهٔ تا سره وعده کوم چې تا به د خپلو ټولو دشمنانو نه بچ کوم او تا له به اولاد
درکړم. (۱۲) کله چې تهٔ مړ شې او د خپل پلار نيکهٔ په اديره کښې ښخ شې، نو زهٔ به ستا

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

یو زوئ بادشاه جوړ کړم او د هغهٔ بادشاهی به قائمه کړم. ۱۳ نو هغه به زما د نوم دپاره
کور جوړ کړی او د هغهٔ بادشاهی به د همېشه دپاره قائمه کړم. ۱۴ زهٔ به د هغهٔ د پلار
په شان یم او هغه به زما د زوئ په شان وی. کله چې هغه غلطی وکړی نو زهٔ به هغهٔ له د
یو انسانی پلار په شان په چُوکه سزا ورکوم. ۱۵ خو زهٔ به د هغهٔ نه خپله نهٔ ختمېدونکې
مینه نهٔ لرې کوم لکه څنګه چې ما د ساؤل نه لرې کړه، هغه مې د دې دپاره اخوا کړو
چې تهٔ بادشاه شې. ۱۶ تهٔ به همېشه اولاد لرې او زهٔ به ستا بادشاهی تل دپاره قائمه
ساتم. ستا بادشاهت به هیڅکله نه ختمېږی." ۱۷ ناتن داؤد ته هغه ټولې خبرې وکړې
چې خُدائ پاک په هغهٔ نازلې کړې وې.

## د حضرت داؤد د شکرانې دُعا

۱۸ بیا داؤد د مالِک خُدائ د حضور خیمې ته دننه لاړو، کښېناستو او دُعا یې وکړه،
"مالِکه خُدایه، خُدایه پاکه، زهٔ او زما خاندان د دې لائق نهٔ یُو، څهٔ چې تا زمونږ دپاره
کړی دی. ۱۹ مالِکه خُدایه پاکه، او بیا تا د نور څهٔ کولو وعده هم کړې ده. مالِکه خُدایه
پاکه، تهٔ اکثر د خلقو سره هم دغه شان کوې؟ ۲۰ زهٔ نور تا ته څهٔ ووایم. تهٔ ما خپل
خِدمت کوونکے پېژنې. ۲۱ د خپلې وعدې د خاطره او د خپلې مرضۍ په مطابق، تا دا
لوئ کار کړے دے او دا دې خپل خِدمت کوونکی ته ښودلے دے. ۲۲ مالِکه خُدایه
پاکه، تهٔ څومره لوئ یې، ستا په شان بل هیڅ څوک هم نشته، مونږ ته همېشه دا پته ده
چې صِرف تهٔ خُدائ پاک یې. ۲۳ د زمکې په مخ باندې د بنی اِسرائیلو په شان بل یو
قوم هم نشته، چې هغوئ تا د غلامۍ نه خلاص کړل د دې دپاره چې هغوئ ستا خپل
خلق شی. تا چې د هغوئ دپاره کوم لوئ او عجیبه کارونه کړی دی د هغې په وجه ستا
نوم په دُنیا کښې مشهور او خور شوے دے. چې ستا خلق مخ په وړاندې تلل نو تا نور
قومونه او د هغوئ معبودان لرې کړل، هغه خلق کوم چې تا د مِصر نه آزاد کړل د دې
دپاره چې ستا خپل خلق شی. ۲۴ تا بنی اِسرائیلیان همېشه دپاره خپل خلق جوړ کړی

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دی او مالِکه خُدایه، ته د هغوئ خُدائ پاک شوې. ۲۵ نو مالِکه خُدایه پاکه، ته خپله
وعده پوره کوه، کومه وعده چې تا زما او زما د اولاد په حقله کړې ده او چې تا څۀ
فرمائیلی دی هم هغه وکړه. ۲۶ ستا نوم به لوئ وی او خلق به همېشه وائی چې، ربُ
الافواج د بنی اِسرائیلو خُدائ پاک دے. او ستا د خِدمت کوونکی داؤد بادشاهت به د
همېشه دپاره قائم وی. ۲۷ ربُ الافواجه، د بنی اِسرائیلو خُدایه پاکه، زۀ دا جرأت کوم
چې زۀ ستا نه دا سوال وکړم، ځکه چې تا دا هر څۀ په ما، په خپل خِدمت کوونکی نازل
کړی دی او تا ما ته فرمائیلی دی چې ته به زما د اولاد نه بادشاهان جوړوې. ۲۸ نو
مالِکه خُدایه، هم ته خُدائ پاک یې، ستا کلام رښتونے دے او تا زما سره دا زبردسته
وعده کړې ده. ۲۹ زۀ تا ته سوال کوم چې ته زما اولاد له برکت ورکړه نو چې هغوئ
ستا د رحم نه خوند واخلی. مالِکه خُدایه پاکه، تا دا وعده کړې ده او ستا برکت به تل
دپاره زما د اولاد په سر وی.“

## د حضرت داؤد بادشاه جنګونه

۸ ۱ څۀ وخت وروستو داؤد بادشاه فلستیانو له شکست ورکړو. نو بنی اِسرائیلیان د
هغوئ د قبضې نه خلاص شول. ۲ بیا هغۀ موآبیانو له شکست ورکړو. هغۀ قیدیان په
قطار کښې په زمکه څملول او قبیلې یې جوړې کړې. د هرو درېو ډلو نه به یې دوه قتلولې
او یوه به یې ژوندۍ پرېښودله. نو موآبیان د هغۀ د اختیار لاندې راغلل او هغۀ له یې
محصُول ورکولو. ۳ بیا داؤد د شام د مُلک د ضوباه بادشاه له شکست ورکړو، چې
د هغۀ نوم هددعزر وو او دې د رِحوب زوئ وو، دا په هغه وخت کښې وشول چې کله
هددعزر د پاسنی فرات سره علاقې بیا نیولو له روان وو. ۴ داؤد د هغۀ اوولس سوه په
آسونو سوارۀ سړی او شل زره عام فوجیان ونیول. هغۀ د سلو جنګی ګاډو دپاره ښۀ ډېر
آسونه وساتل او باقی نور ټول یې ګوډ کړل. ۵ کله چې د دمشق شامیانو د هددعزر
بادشاه مدد دپاره یو لښکر ولېږلو، نو داؤد په هغوئ باندې حمله وکړه او دوویشت زره

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

سړی يې ترې نه ووژل. ۶ بيا هغهٔ په هغه علاقه کښې فوجی کېمپونه ولګول او هغوئ د
هغهٔ د اختيار لاندې راغلل او محصُول يې ورکولو. مالِک خُدائ په هر ځائ کښې داؤد له
فتح ورکوله. ۷ داؤد د هددعزر د آفسرانو د سرو زرو ډالونه قبضه کړل او دا يې
يروشلم ته راوړل. ۸ هغهٔ د بطاه او بيروتی ښارونو نه په لوئ مِقدار کښې زيړ هم يوړل
چې په دې ښارونو باندې هددعزر حکومت کولو. ۹ د حمات بادشاه توعی خبر شو
چې داؤد د هددعزر ټول لښکر له شکست ورکړے دے. ۱۰ نو هغهٔ خپل زوئ يورام
بادشاه داؤد له ولېږلو او په هددعزر باندې د فتحې مبارکی يې ورکړه، چې د هغهٔ خِلاف
توعی څو ځلې جنګ کړے وو. يورام داؤد له تُحفې يوړې چې د سرو زرو، سپينو زرو او
زيړو نه جوړې وې. ۱۱ داؤد بادشاه دا تُحفې وقف کړې چې په عبادت کښې به
استعمالېدې، په دې کښې هغه سرهٔ او سپين زر هم شامل وُو چې د هغه قومونو نه يې
اخستی وُو چې کوم يې فتح کړی وُو، ۱۲ د ادوم، موآب، عمون، فلستيه او عماليق
قومونو نه، هم داسې د هغه مالِ غنيمت حِصه هم چې هغهٔ د هددعزر نه اخستے وو. ۱۳
کله چې داؤد د مالګې په وادئ کښې اتلس زره ادوميانو وژلو نه پس راوګرځېدو نو هغه
نور هم مشهور شو. ۱۴ هغهٔ په ټول ادوم کښې فوجی کېمپونه ولګول او د هغه ځائ
خلق د هغهٔ د اختيار لاندې راغلل. مالِک خُدائ داؤد له په هر ځائ کښې فتح ورکوله.
۱۵ داؤد په ټولو بنی اِسرائيلو باندې حکومت کولو او هغهٔ دا خبره يقينی کړه چې د هغهٔ
د ټولو خلقو سره هميشه د عدل او اِنصاف سلوک کيږی. ۱۶ يوآب د لښکر مشر وو
چې د هغهٔ مور ضرویاه وه، د اخيلود زوئ يهوسفط منشی وو، ۱۷ د اخيطوب زوئ
صدوق او د ابياتار زوئ اخيمُلک اِمامان وُو، شرایاه د عدالت منشی وو، ۱۸ د يهويدع
زوئ بناياه د داؤد د محافظانو مشر وو او د داؤد زامن اِمامان وُو.

## حضرت داؤد او مفيبوست

۹ ۱ يوه ورځ داؤد تپوس وکړو، ”د ساؤل د خاندان څوک پاتې دی؟ کهٔ څوک وی نو

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د یونتن د خاطره به زۀ پرې مهربان شم.“ ۲ د ساؤل د خاندان یو نوکر راوغوښتے
شو چې نوم یې ضیبا وو. بادشاه ترې نه تپوس وکړو، ”تۀ ضیبا یې څۀ؟“ هغۀ جواب
ورکړو، ”ستا خِدمت کوونکے حاضر یم.“ ۳ بادشاه ترې نه تپوس وکړو، ”د ساؤل په
خاندان کښې داسې څوک پاتې دے څۀ چې هغۀ ته وفاداری او مِهربانی وښایم، لکه
څنګه چې ما د خُدائ پاک سره وعده کړې ده؟“ ضیبا جواب ورکړو، ”د یونتن یو زوئ
تر اوسه پورې شته او هغه په دواړو پښو ګوډ دے.“ ۴ بادشاه تپوس وکړو، ”هغه چرته
دے؟“ ضیبا ورته ووئیل، ”هغه په لودبار کښې د عمی‌ایل زوئ مکیر په کور کښې دے.“
۵ نو داؤد بادشاه هغه راوغوښتو. ۶ کله چې د ساؤل نمسے او د یونتن زوئ
مفیبوست راورسېدو، هغه داؤد ته د عزت نه ټيټ شو. داؤد وفرمائیل، ”مفیبوسته.“ او
هغۀ ورته ووئیل، ”ستا خِدمتګار حاضر یم.“ ۷ داؤد جواب ورکړو، ”یرېږه مه، ستا د
پلار په وجه زۀ په تا مِهربانه یم. زۀ به تا له هغه ټوله زمکه واپس درکړم کومه چې ستا د
نیکۀ ساؤل وه او تا ته به زما په دسترخوان باندې همېشه هرکلے وئیلے شی.“ ۸
مفیبوست یو ځل بیا ټيټ شو او وې وئیل، ”صاحِبه، زما نه خو یو مړ سپے هم ښۀ
دے، تۀ زما سره ولې دومره ښۀ یې؟“ ۹ بیا بادشاه د ساؤل نوکر ضیبا راوغوښتو او
ورته یې وفرمائیل، ”زۀ ستا د نیک نمسی، مفیبوست له هغه هر څۀ ورکوم چې هغه د
ساؤل او د هغۀ د خاندان وُو. ۱۰ تۀ، ستا زامن او ستا نوکران به د ساؤل د خاندان
زمکه کَری او فصل به یې راوړی چې هغوئ ته خوراک ملاویږی. خو مفیبوست به
همېشه زما په دسترخوان باندې مېلمه وی.“ د ضیبا پینځلس زامن او شل نوکران وُو.
۱۱ ضیبا ورته ووئیل، ”بادشاه سلامت، زۀ به هر هغه څۀ کوم چې تۀ یې حُکم کوې.“
مفیبوست د بادشاه په دسترخوان باندې د بادشاه د زوئ په شان خوراک کولو. ۱۲ د
مفیبوست یو زلمے زوئ وو چې نوم یې میکا وو. د ضیبا د خاندان مکمل کسان د
مفیبوست نوکران شول. ۱۳ نو مفیبوست چې په دواړو پښو شل وو هغه په یروشلم
کښې اوسېدو، هغۀ به همېشه د بادشاه په دسترخوان خوراک کولو.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د حضرت داؤد عمونیانو او شامیانو له شکست ورکول

۱۰ ۱ څۀ موده وروستو د عمون بادشاه ناحس مړ شو او د هغۀ زوئ حنون
بادشاه شو. ۲ داؤد بادشاه وفرمائيل، ”زۀ به په حنون هغسې مِهربانه شم، لکه چې د
هغۀ پلار ناحس په ما مِهربانه وو.“ نو داؤد پېغام وړُونکی ورولېږل چې هغۀ له تسلی
ورکړی. کله چې هغوئ عمون ته ورسېدل، ۳ د عمونیانو مشرانو بادشاه ته ووئيل،
”ستا خيال دا دے څۀ چې داؤد ستا د پلار درناوے کوی چې هغۀ دا کسان د همدردئ
دپاره درلېږلی دی؟ بلکل نه، هغۀ دا د جاسوسئ دپاره رالېږلی دی چې ښار ولټوی او په
مونږ باندې فتح حاصله کړی.“ ۴ حنون د داؤد پېغام وړُونکی ونيول او يو طرف ته
ږيرې يې ورله وخرئيلې، جامې يې ورله وشلولې چې د نوم نه لاندې بربنډ شی او هغوئ
يې واپس ولېږل. ۵ هغوئ چې کورونو ته راواپس شول نو ډېر زيات شرمېدل. کله چې
داؤد خبر شو چې څۀ شوی وُو، نو هغۀ خبر ورولېږلو چې هغوئ دې تر هغې پورې په
يريحو کښې ايسار شی چې ږيرې يې بيا راوخېژی. ۶ کله چې عمونیانو ته پته ولګېده
چې داؤد يې دشمن شوے دے، نو هغوئ د بيت‌رِحوب او ضوباه نه شل زره شامی
فوجيان په پېسو راوستل، د معکه د بادشاه ورسره زر سړی او د طوب ورسره دولس
زره سړی وُو. ۷ داؤد د دې نه خبر شو او يوآب يې د ټول لښکر سره د هغوئ خِلاف
ولېږلو. ۸ عمونيان روان شول او د ربه په دروازه کښې يې د جنګ دپاره صفونه جوړ
کړل، کوم چې د هغوئ مرکزی ښار وو، خو هغه نورو يعنې شاميانو او د طوب او معکه
سړو په مېدان کښې د جنګ تيارے وکړو. ۹ يوآب چې وليدل چې د دشمن لښکر به د
مخکښې او شا طرف نه حمله کوی، نو هغۀ ښۀ ښۀ بنی اِسرائيلی فوجيان خوښ کړل او
شاميانو ته مخامخ يې په صفونو کښې ودرول. ۱۰ هغۀ پاتې لښکر د خپل ورور ابيشی د
مشرئ لاندې ودرولو، چا چې هغوئ عمونيانو ته مخامخ په صفونو کښې ودرول. ۱۱
يوآب هغۀ ته ووئيل، ”کۀ تا ته پته ولګی چې شاميان ما له شکست راکوی، نو زما مدد له
راشه او کۀ عمونيان تا له شکست درکوی، نو زۀ به ستا مدد له درشم. ۱۲ تکړه شه او

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

حوصله مضبوطه کړه. راځئ چې د خپلو خلقو او د خُدائ پاک د ښارونو دپاره سخت
جنګ وکړُو. او مالِک خُدائ به هغه څۀ کوی چې د هغۀ په نظر کښې صحيح وی.“ ۱۳
يوآب او د هغۀ سړی د حملې دپاره رامخکښې شول او شاميان وتښتېدل. ۱۴ کله چې
عمونيانو وليدل چې شاميان تښتی، نو هغوئ د ابيشی نه وتښتېدل او ښار ته راواپس
شول. بيا يوآب د عمونيانو نه راواپس شو او يروشلم ته لاړو. ۱۵ شاميانو ته پته ولګېده
چې هغوئ د بنی اِسرائيلو نه شکست خوړلے دے، نو هغوئ خپل ټول لښکر راغونډ
کړو. ۱۶ هددعزر بادشاه شاميان راوغوښتل چې هغوئ د فرات سيند نمرخاتۀ طرف ته
وُو او هغوئ حلام ته د سوياب د مشرۍ لاندې راغلل. سوياب د ضوياه د هددعزر
بادشاه د لښکر مشر وو. ۱۷ کله چې داؤد د دې نه خبر شو، نو هغۀ د بنی اِسرائيلو ټول
فوجيان راغونډ کړل، د اُردن سيند نه پورې وتل او حلام ته روان شول، هلته شاميانو
هغۀ ته مخامخ د جنګ دپاره صفونه جوړ کړی وُو او جنګ شروع شو، ۱۸ بنی
اِسرائيلو شاميانو له بيا شکست ورکړو. داؤد او د هغۀ سړو اووۀ سوه د جنګی ګاډو والا
او څلوېښت زره فوجيان ووژل او هغوئ د دشمن مشر سوياب زخمی کړو، چې بيا د
جنګ په ميدان کښې مړ شو. ۱۹ چې د هددعزر اختيار لاندې بادشاهانو ته پته ولګېده
چې هغوئ د بنی اِسرائيلو نه شکست خوړلے دے، نو هغوئ ورسره صُلح وکړه او د
هغوئ ماتحت شول. او شاميان د عمونيانو سره د نورې ملګرتيا کولو نه يرېدل.

## حضرت داؤد او بت‌سبع

۱۱ ۱ په سپرلی کښې د کال په کوم وخت چې بادشاهان اکثر جنګ له ځی، داؤد
يوآب د هغۀ آفسران او د بنی اِسرائيلو لښکر ولېږلو، هغوئ عمونيانو له شکست ورکړو
او د ربه ښار يې محاصره کړو. خو داؤد په خپله په يروشلم کښې ايسار شو. ۲ يوه
ورځ په ماښامی کښې داؤد د کټ نه پاځېدو او د محل چت ته وختو. کله چې هغه هلته
ګرځېدلو نو هغۀ يوه ښځه وليده چې لامبل يې. هغه ډېره ښائسته وه. ۳ نو هغۀ يو پيغام

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ورونکے ولیږلو چې معلومه کړی چې هغه څوک وه، نو هغهٔ ته ووئیلے شول چې هغه
بتسبع وه، هغه د الیعام لور او د حِتی اورِیاه ښځه وه. ۴ داؤد پیغام وړُونکی
ورولیږل چې هغه راولی، هغه ورله راغله او داؤد ورسره څملاستو. هغه د میاشتنۍ
بیمارۍ نه ایله صفا شوې وه. بیا هغه واپس کور ته لاړه. ۵ وروستو هغې ته پته ولګېده
چې هغه اُمیدواره ده او داؤد له یې پیغام ولیږلو چې خبر شی چې زهٔ اُمیدواره یم. ۶
بیا داؤد یوآب له دا پیغام ولیږلو، "اورِیاه حِتے ما له راولیږه." یوآب هغه داؤد له ولیږلو.
۷ کله چې اورِیاه راورسیدو، داؤد ترې نه تپوس وکړو چې، "یوآب او لښکر څنګه دے
او جنګ څنګه روان دے؟" ۸ بیا هغهٔ اورِیاه ته ووئیل، "کور ته لاړ شه او لږ آرام
وکړه." اورِیاه لاړو او داؤد د هغهٔ کور ته یوه تُحفه ولیږله. ۹ خو اورِیاه کور ته لا نهٔ
ړو، هغه د بادشاه د څوکیدارانو سره د محل د دروازې سره څملاستو. ۱۰ کله چې
داؤد خبر شو چې اورِیاه کور ته نهٔ دے تلے، نو هغهٔ ترې نه تپوس وکړو، "تهٔ د ډیر
وخت غیرحاضرۍ نه اوس راواپس شوے یې، تهٔ کور ته ولې لا نهٔ ړې؟" ۱۱ اورِیاه
ورته ووئیل، "د بنی اِسرائیلو او د یهوداه سړی په جنګ کښې دی او د لوظ صندوق د
هغوئ سره دے، زما مشر یوآب او د هغهٔ آفسرانو په میدان کښې خیمې لګولې دی. زهٔ
څنګه کور ته لاړ شم، یا څنګه خوراک څښاک وکړم او د خپلې ښځې سره څملم؟ زهٔ
ستا په سر قسم خورم چې زهٔ به داسې کار هیڅکله ونهٔ کړم." ۱۲ نو داؤد وفرمائیل،
"نو دا پاتې ورځ دلته ایسار شه او سبا به زهٔ تا واپس ولیږم." نو اورِیاه په هغه او په
وریسې ورځ په یروشلم کښې ایسار شو. ۱۳ داؤد هغه د ماښام روټۍ له راوغوښتو او
نشه یې کړو. خو اورِیاه په هغه شپه بیا کور ته لا نهٔ ړو، او د محل د څوکیدارانو په کوټه
کښې په کټ کښې څملاستو. ۱۴ په وریسې سحر داؤد یوآب ته یو خط ولیکلو او اورِیاه
په لاس یې ورولیږلو. ۱۵ هغهٔ ولیکل، "اورِیاه په وړومبی صف کښې ودروه، چرته چې
جنګ ډیر سخت دے، هغه یواځې پرېږده چې ووژلے شی." ۱۶ کله چې یوآب ښار
محاصره کولو، نو هغهٔ اورِیاه یو داسې ځائ ته ولیږلو چې هغهٔ ته پته وه چې هلته دشمن
تکړه دے. ۱۷ د دشمن لښکر د ښار نه راووتلو او د یوآب د لښکر سره یې جنګ وکړو،

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د داؤد يو څو آفسران ووژلے شول او اورِياه هم ووژلے شو. ۱۸ بيا يوآب داؤد له د
جنګ په حقله خبر ورولېږلو، ۱۹ او هغۀ پېغام وړُونکى ته داسې وفرمائيل، ”کله چې تۀ
بادشاه ته د جنګ په حقله هر څۀ ووائې، ۲۰ نو کېدے شى چې هغه غصه شى او تپوس
درنه وکړى چې تاسو د هغوئ سره جنګ دپاره ښار ته دومره نزدې ولې تلى وئ؟ تاسو
ته پته نۀ وه څۀ چې هغوئ به مو د دېوالونو نه په غشو وولى؟ ۲۱ تاسو ته ياد نۀ دى څۀ
چې د جدعون زوئ ابىمَلِک څنګه وژلے شوے وو؟ په تيبض کښې داسې شوى وُو چې
يوې ښځې د دېوال نه د ژرندې کاڼے راوغورزولو او هغه يې ووژلو. نو بيا تاسو ولې
دومره دېوال ته نزدې شوى وئ؟ کۀ بادشاه ستاسو نه دا تپوس وکړو نو هغۀ ته ووايئ
چې ستاسو آفسر اورِياه حِتے هم وژلے شوے دے.“ ۲۲ نو پېغام وړونکے داؤد له
لاړو او هغه هر څۀ يې ورته ووئيل چې څۀ يوآب د وئيلو حُکم کړے وو. ۲۳ هغۀ ووئيل،
”زمونږ دشمنان زمونږ نه تکړه وُو او د ښار نه راووتل چې په مېدان کښې مونږ سره
جنګ وکړى، خو مونږ هغوئ د ښار دروازې ته واپس وشړل. ۲۴ بيا هغوئ د دېوال نه
په مونږ باندې غشى راوويشتل او بادشاه سلامت، ستا يو څو آفسران ووژلے شول، ستا
آفسر اورِياه حِتے هم ووژلے شو.“ ۲۵ داؤد پېغام وړُونکى ته وفرمائيل، ”د يوآب
حوصله افزائى وکړه او ورته ووايه چې خفه نۀ شى، ځکه چې تا ته دا پته نۀ لګى چې
څوک به په جنګ کښې مرى. هغۀ ته ووايه چې په ښار باندې يوه مضبوطه حمله وکړى
او قبضه يې کړى.“ ۲۶ کله چې بتسبع خبر شوه چې د هغې خاوند وژلے شوے دے،
نو هغې وريسې ماتم وکړو. ۲۷ کله چې د ماتم وخت تېر شو، داؤد هغه راوغوښتله چې
محل ته راشى، نو هغه يې ښځه شوه او يو زوئ يې ترې نه پېدا شو. خو چې داؤد کوم
عمل کړے وو په هغې باندې مالِک خُدائ نارضا وو.

## د ناتن پېغام او د حضرت داؤد پښېمانه کېدل

۱۲ ۱ مالِک خُدائ ناتن پېغمبر داؤد له ولېږلو. ناتن هغۀ له ورَغلو او دا مثال يې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ورته بیان کړو، ”دوه سړی وُو چې په یو ښار کښې اوسېدل، یو مالداره او بل غریب وو.
۲ مالداره سره ډېر ښاروی او ګېډې وې، ۳ خو د غریب سره صِرف یوه ګډورۍ
وه، کومه چې هغهٔ اخستې وه. هغهٔ د دې خیال ساتلو او هغه د هغهٔ په کور کښې د هغهٔ د
ماشومانو سره لویه شوه. هغې له به یې د خپل خوراک نه خوراک ورکولو او په خپل
جام کښې به یې څښلو ته پرېښوده او په خپله غېږه کښې به یې نیوله. ګډورۍ د هغهٔ
دپاره د لور په شان وه. ۴ یوه ورځ یو مسافر د هغه مالداره سړی کور ته راغلو.
مالداره سړی نهٔ غوښتل چې هغه خپل یو څناور حلال کړی چې د هغهٔ دپاره روټۍ تیاره
کړی، هغهٔ د غریب سړی ګډورۍ واخستله او د خپل مېلمه دپاره یې روټۍ تیاره کړه.“
۵ داؤد هغه مالداره سړی ته سخت غصه شو او ورته یې ووئیل، ”زهٔ په ژوندی مالِک
خُدائ قسم کوم چې کوم سړی دا کړی وی نو هغه د مرګ لائق دے. ۶ څکه چې هغهٔ
داسې بې‌رحمه کار کړے دے، هغه به خامخا د دې په څلور چنده تاوان ورکوی.“ ۷
ناتن داؤد ته وفرمائیل، ”تهٔ هغه سړے یې. مالِک خُدائ د بنی اِسرائیلو خُدائ پاک
فرمائی، ما تهٔ د بنی اِسرائیلو بادشاه جوړ کړې او د ساؤل نه مې بچ کړې. ۸ ما تا له د
هغهٔ بادشاهی او د هغهٔ ښځې درکړې دی، ما تهٔ په بنی اِسرائیلو او په یهوداه باندې بادشاه
جوړ کړې. خو کهٔ دا کمه وے نو ما به تا له د دې نه علاوه نور هم درکړے وے. ۹ نو
تا د مالِک خُدائ حُکم ته سپک ولې کتلی دی؟ تا دا بد عمل ولې کړے دے؟ تا اورِیاه
حِتے په جنګ کښې وژلے دے، تا عمونیان پرېښودل چې هغه ووژنی او بیا تا د هغهٔ
ښځه بوتله. ۱۰ نو ستا اولاد به همېشه په جنګ جګړو کښې آخته وی څکه چې تا زما
سپکاوے کړے دے چې د اورِیاه ښځه دې بوتله. ۱۱ مالِک خُدائ تا ته فرمائی چې زهٔ
به ستا د خپل خاندان نه څوک د دې سبب وګرځوم چې په تا مصیبت راولی. تهٔ به خپلو
سترګو ګورې چې زهٔ به ستا نه ښځې بوځم او بل سړی له به یې ورکوم، او هغه به په رڼا
ورځ ورسره څملی. ۱۲ تا په پټه ګناه کړې ده، خو زهٔ به په رڼا ورځ داسې وکړم چې
ټول بنی اِسرائیلیان یې وګوری.“ ۱۳ داؤد وفرمائیل، ”ما د مالِک خُدائ خِلاف ګناه
کړې ده.“ ناتن ورته وفرمائیل، ”خو مالِک خُدائ تهٔ معاف کړے یې، تهٔ به نهٔ مرې. ۱۴

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خو د دې عمل په وجه تا د مالِک خُدائ لوئ سپکاوے کړے دے، نو په دې وجه به ستا
ماشوم مړ شی.“ ۱۵ بيا ناتن کور ته لاړو.

## د حضرت داؤد د زوئ مړ کېدل

د اورِياه د ښځې نه چې د داؤد کوم ماشوم پېدا شوے وو مالِک خُدائ هغه سخت بيمار
کړو. ۱۶ داؤد خُدائ پاک ته د دې دپاره سوال وکړو چې ماشوم ښۀ شی. هغۀ روژه
ونيوله او هره شپه به د هغۀ کوټې ته تلو او ټوله شپه به يې په زمکه تېروله. ۱۷ د هغۀ د
دربار آفسران به ورتلل او د هغۀ د پاڅېدو کوشش به يې کولو، خو هغۀ به اِنکار کولو او
د هغوئ سره يې هيڅ هم نۀ خوړل. ۱۸ يوه هفته وروستو هغه ماشوم مړ شو او د داؤد
آفسران يرېدل چې د دې نه يې خبر کړے وے. هغوئ ووئيل، ”کوم وخت چې ماشوم
ژوندے وو، نو مونږ به چې د داؤد سره خبرې کولې نو هغۀ به جواب نۀ راکولو. نو هغۀ
ته مونږ څنګه ووايو چې د هغۀ ماشوم مړ دے؟ کېدے شی چې هغه خپل ځان ته څۀ
نقصان ورسوی.“ ۱۹ کله چې داؤد هغوئ وليدل چې هغوئ د يو بل سره پټې خبرې
کولې، نو هغۀ ته پته ولګېده چې ماشوم مړ دے. نو هغۀ ورنه تپوس وکړو، ”ماشوم مړ
دے څۀ؟“ نو هغوئ جواب ورکړو، ”آو، مړ دے.“ ۲۰ داؤد د زمکې نه پاڅېدو، وې
لامبل، تېل يې ولګول او جامې يې بدلې کړې. بيا هغه لاړو او د مالِک خُدائ په کور کښې
يې عبادت وکړو. کله چې هغه محل ته راواپس شو، هغۀ روټۍ راوغوښته. هغوئ روټۍ
ورته کېښوده او هغۀ وخوړه. ۲۱ نو خپلو آفسرانو داؤد ته ووئيل، ”مونږ په دې پوهه نۀ
شُو، کله چې ماشوم ژوندے وو، نو تا به په هغۀ پسې ژړل او خوراک به دې نۀ کولو،
خو چې څنګه هغه ماشوم مړ شو، نو تۀ پاڅېدې او خوراک دې شروع کړو.“ ۲۲ داؤد
جواب ورکړو، ”آو، کوم وخت چې هغه ژوندے وو نو ما روژه نيولې وه او ژړل مې. زما
خيال دا وو چې کېدے شی چې مالِک خُدائ به په ما رحم وکړی او ماشوم به نۀ وژنی.
۲۳ خو اوس هغه مړ دے، نو زۀ ولې روژه ونيسم؟ زۀ ماشوم بيا ژوندے کولے شم
څۀ؟ يوه ورځ به زۀ هم هلته ځم چرته چې هغه دے، خو هغه هيڅکله ما له واپس نۀ شی

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

راتلے.“

## د حضرت سليمان پېدا کېدل

۲۴ بيا داؤد خپلې ښځې بتسبع له تسلى ورکړه. د هغې سره څملاستو او د هغې نه يې
يو زوئ پېدا شو. داؤد په هغۀ سليمان نوم کېښودو. مالِک خُدائ د ماشوم سره مينه
کوله. ۲۵ او هغۀ ناتن پېغمبر له حُکم ورکړو چې په ماشوم يديدياه نوم کېږدى، ځکه
چې مالِک خُدائ د هغۀ سره مينه کوله.

## د حضرت داؤد ربه قبضه کول

۲۶ په دې دوران کښې د يوآب جنګ د ربه خِلاف جارى وو، چې د عمون شاهى ښار
وو او قبضه کېدو ته نزدې وو. ۲۷ هغۀ داؤد ته پېغام ورُونکى ولېږل چې ورته ووائى،
”ما په ربه حمله کړې ده او د دې د اوبو مرکز مې قبضه کړے دے. ۲۸ اوس خپل
پاتې لښکر راغونډ کړه، په ښار حمله وکړه او د خپل ځان دپاره يې ونيسه. زۀ دا نۀ
غواړم چې د دې قبضه کول زما په نوم ياديږى.“ ۲۹ نو داؤد خپل لښکر راغونډ کړو،
ربه ته لاړو، حمله يې پرې وکړه او فتح يې کړو. ۳۰ داؤد د هغوئ د بُت مولک د سر نه
د سرو زرو تاج واخستو چې تقريباً پينځۀ ديرش کلو وو او يو قيمتى کاڼے هم په کښې
وو او دا يې په خپل تاج کښې ولګولو. هغۀ د ښار نه ډېر مالِ غنيمت هم يوړو. ۳۱ او د
دې ځائ د خلقو نه يې په ارو، د اوسپنې په رمبو او د اوسپنې په تبرُونو کار اخستو او
دې ته يې مجبور کړل چې خَښتې جوړوى. هغۀ د عمون د نورو ټولو ښارونو په خلقو هم
دغه شان کار کولو. بيا هغه او د هغۀ سړى يروشلم ته راواپس شول.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## امنون او تامار

۱۳ ۱ د داؤد د زوئ ابی‌سلوم یوه ښائسته ناوادۀ شوې خور وه چې نوم یې تامار
وو. د داؤد یو بل زوئ امنون په هغې باندې مئین شو. ۲ هغۀ ورسره دومره مینه کوله
چې هغې پسې بیمار شو، هغې د سړو سره تعلق نۀ ساتلو او د هغۀ خیال نۀ راتلو چې دا
پېغله به د هغۀ شی. ۳ خو د هغۀ یو چالاک دوست وو چې نوم یې یوندب وو. دا
سړے د داؤد د ورور د سِمعه زوئ وو. ۴ یوندب امنون ته ووئیل، "تۀ د بادشاه زوئ
یې، خو ورځ په ورځ تۀ نور هم زیات پرېشانه ښکارې، دا څۀ وجه ده؟" هغۀ ورته په
جواب کښې ووئیل، "زۀ د خپل ناسکه ورور ابی‌سلوم په خور تامار باندې مئین یم." ۵
یوندب ورته ووئیل، "د ځان نه بیمار جوړ کړه او په کټ کښې څمله. کله چې ستا پلار
مِلاوېدو له درشی نو هغۀ ته ووایه چې مِهربانی وکړه زما خور تامار ته ووایه چې راشی
او ما له څۀ خوراک راکړی. زۀ غواړم چې هغه دلته زما په مخکښې زما دپاره خوراک
تیار کړی او بیا یې ما له په خپل لاس راکړی." ۶ نو امنون بهانه وکړه چې زۀ بیمار یم
او په کټ کښې څملاستو. داؤد بادشاه مِلاوېدو له ورَغلو او امنون ورته ووئیل،
"مِهربانی وکړه تامار پرېږده چې راشی او زما په مخکښې دلته یو څو روټۍ تیارې کړی
او بیا یې ما له په خپل لاس راکړی." ۷ نو داؤد د تامار کور ته خبر ورولېږلو چې، "د
امنون کور ته لاړه شه او د هغۀ دپاره څۀ خوراک تیار کړه." ۸ هغه هلته لاړه او هغه
یې ولیدو چې ملاست وو. هغې یو څو پېړې واخستلې، جوړې یې کړې او د هغۀ په
مخکښې یې هلته روټۍ پخې کړې. ۹ او د تبخی نه یې لرې کړې چې هغه یې وخوری،
خو هغۀ ونۀ خوړې. هغۀ ووئیل، "هر یو کس بهر کړه." نو هغوئ ټول لاړل. ۱۰ بیا هغۀ
ورته ووئیل، "روټۍ دلته ما له کټ له راوړه او ما له یې په خپل لاس راکړه." هغې روټۍ
واخستلې او هغۀ له ورغله. ۱۱ کله چې هغې روټۍ ورله راوړه نو هغۀ راونیوله او ورته
یې ووئیل، "راځه زما خورې، ما سره څمله." ۱۲ هغې ورته ووئیل، "نه زما وروره،
داسې بې‌شرمه کار ته ما مۀ مجبوروه، په کار نۀ دی چې داسې بد عمل په بنی اِسرائیلو

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کښې وشی. ⁽۱۳⁾ زهٔ به بیا په خلقو کښې سر ښکته اوچتوم؟ او تهٔ به په بنی اِسرائیلو
کښې بیخی بې‌عزته یې. زهٔ ستا مِنت کوم چې بادشاه ته ووایه او زما دا یقین دے چې
هغه به مې تا له درکړی.“ ⁽۱۴⁾ خو د هغې خبره یې وانهٔورېده، او ځکه چې هغه د هغې نه
تکړه وو نو قابو یې کړه او په زور یې د هغې بې‌عزتی وکړه. ⁽۱۵⁾ بیا امنون د هغې نه ډېر
زیات نفرت شروع کړو، هغهٔ د هغې سره د هغې نه هم زیات نفرت کولو چې څومره یې
مخکښې مینه ورسره کوله. هغهٔ ورته ووئیل، ”پاڅه او ورکه شه.“ ⁽۱۶⁾ هغې ورته ووئیل،
”نه، زهٔ نهٔ ځم، تهٔ چې ما داسې لېږې نو دا د هغې نه هم لوئ جرم دے، څهٔ چې تا اوس
اوس زما سره وکړل.“ خو امنون د هغې خبرې ته غوږ نهٔ نیولو، ⁽۱۷⁾ هغهٔ خپل نوکر
راوغوښتو او ورته یې ووئیل، ”دا ښځه زما د نظره لرې کړه. دا بهر وباسه او دروازه
ورپسې بنده کړه.“ ⁽۱۸⁾ نوکر هغه بهر کړه او دروازه یې ورپسې بنده کړه. تامار د اوږدو
لسټُونو اوږده چُوغه اغوستې وه، چې په هغه وخت کښې د یوې پېغلې شهزادګۍ دا عام
لِباس وو. ⁽۱۹⁾ هغې په خپل سر ایرې واچولې، چُوغه یې وشلوله او خپل مخ یې په
لاسونو پټ کړو. په چغو چغو یې ژړل او روانه وه. ⁽۲۰⁾ کله چې خپل ورور ابی‌سلوم هغه
ولیده نو تپوس یې تري نه وکړو، ”امنون تا سره داسې غلط کار کړے دے څهٔ؟ زما
خورې، په دې باندې مهٔ خفه کېږه. هغه ستا ناسکه ورور دے او د دې په حقله هیڅا ته
هم مهٔ وایه.“ نو تامار د ابی‌سلوم په کور کښې یواځې او خفه اوسېده. ⁽۲۱⁾ کله چې داؤد
بادشاه خبر شو چې څهٔ شوی وُو، نو هغه سخت غصه شو. ⁽۲۲⁾ او ابی‌سلوم د امنون
سره دومره نفرت کولو چې هغهٔ سره یې نورې خبرې هم نهٔ کولې ځکه چې د هغهٔ د خور
تامار سره امنون په زور زنا کړې وه.

## د ابی‌سلوم بدل اخستل

⁽۲۳⁾ دوه کاله وروستو ابی‌سلوم د اِفرائیم ښار سره نزدې په بعل حصور کښې خپلې
ګډې کلولې او د بادشاه ټول زامن یې راوغوښتل چې هلته راشی. ⁽۲۴⁾ هغه داؤد بادشاه

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

له لاړو او ورته يې ووئيل، ”بادشاه سلامت، زهٔ خپلې ګډې کلوم. تهٔ او ستا آفسران به
راشئ چې ما سره په دې کښې شريک شئ؟“ ۲۵ بادشاه ورته وفرمائيل، ”نه، زما زويه،
کهٔ مونږ ټول ورشو نو دا به ستا دپاره لوئ تکليف وی.“ ابی‌سلوم ورته بيا بيا وئيل او
بادشاه د هغهٔ سره نهٔ تلو خو هغهٔ د ابی‌سلوم دپاره برکت وغوښتو. ۲۶ خو ابی‌سلوم
ورته ووئيل، ”ښه، کم از کم زما ورور امنون خو به پرېږدې کنه چې ما سره لاړ شی.“
بادشاه ترې نه تپوس وکړو، ”هغه دې ولې لاړ شی؟“ ۲۷ خو ابی‌سلوم بيا بيا ورته وئيل
چې داؤد آخر هم امنون او خپل نور ټول زامن پرېښودل چې د ابی‌سلوم سره لاړ شی.
ابی‌سلوم يوه شاهی روټی تياره کړه. ۲۸ هغهٔ خپلو نوکرانو ته ووئيل، ”ګورئ، کله چې
امنون د ميو څښلو په وجه په سُور کښې شی او چې زهٔ حُکم درکړم چې هغه ووژنئ نو
يرېږئ مه. زهٔ به په خپله د دې ذمه واری اخلم. تکړه شئ او چې ونهٔ يرېږئ.“ ۲۹ نو
نوکرانو د ابی‌سلوم په خبره عمل وکړو او امنون يې ووژلو. د داؤد باقی نور ټول زامن په
خپلو قچرو باندې سوارهٔ شول او وتښتېدل. ۳۰ څهٔ وخت چې هغوئ خپل کور ته
راروان وُو، نو داؤد ته داسې ووئيلے شول، ”ابی‌سلوم ستا ټول زامن وژلی دی، يو هم
پاتې نهٔ دے.“ ۳۱ بادشاه پاڅېدو، د غم نه يې خپلې جامې وشلولې او خپل ځان يې په
زمکه وغورزولو. کوم نوکران چې د هغهٔ سره هلته وُو نو هغوئ هم خپلې جامې وشلولې.
۳۲ خو د داؤد د ورور سِمعه زوئ يوندب ووئيل، ”بادشاه سلامت، دا خيال مهٔ کوه چې
هغوئ ستا ټول زامن وژلی دی. صِرف امنون مړ دے. په کومه ورځ چې امنون د تامار
سره په زور زنا وکړه نو ابی‌سلوم د هغهٔ د وژلو فيصله کړې وه. ۳۳ نو په دې خبره
يقين مهٔ کوه چې ستا ټول زامن مړهٔ شوی دی، صِرف امنون وژلے شوے دے.“ ۳۴
په دې دوران کښې ابی‌سلوم تښتېدلے وو. نو بيا پهره دار ډېر خلق وليدل چې د
حوروناېم په لاره د غرهٔ نه راکوزېدل. هغه بادشاه له لاړو او چې څهٔ يې ليدلی وُو د هغې
نه يې خبر کړو. ۳۵ يوندب داؤد ته ووئيل، ”وګورئ، هغه دی ستا زامن راروان دی
څنګه چې ما درته وئيلی وُو چې هغوئ به راشی.“ ۳۶ چې څنګه هغهٔ دا خبره ختمه
کړه، نو د داؤد زامن راننوتل، هغوئ په ژړا شروع وکړه او داؤد او د هغهٔ آفسرانو هم په

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چغو چغو وژړل. ۳۷-۳۸ ابی‌سلوم وتښتېدو او د جسور بادشاه د عمیهود زوئ تلمی له
لاړو او هلته درې کاله پاتې شو. داؤد په خپل زوئ امنون پسې تر ډېره وخته غمژن وو،
۳۹ خو کله چې داؤد د امنون د مرګ نه په آرام شو، نو د هغهٔ زړهٔ بیا دا غوښتل چې د
ابی‌سلوم سره مِلاو شی.

## د ابی‌سلوم یروشلم ته راواپس کېدل

۱۴ ۱ یوآب ته پته ولګېده چې د داؤد بادشاه ابی‌سلوم ډېر زیات یادیږی، ۲ نو
هغهٔ یوه هوښیاره ښځه راوغوښتله چې په تقوع کښې اوسېده. کله چې هغه راورسېده، نو
هغهٔ ورته ووئیل، "داسې ښکاره کړه چې تهٔ په غم غمژنه یې، د غم جامې واغونده او تېل
مهٔ لګوه. داسې کار کوه لکه چې یوه ښځه د ډېر وخت نه په غم غمژنه وی. ۳ بیا
بادشاه له لاړه شه او چې زهٔ درته څهٔ وایم نو هغه ورته ووایه." نو یوآب ورته هغه څهٔ
وښودل چې هغې له څهٔ وئیل په کار ؤو. ۴ ښځه بادشاه له ورغله، د عزت نه ورته په
زمکه ټیټه شوه او ورته یې ووئیل، "بادشاه سلامت، زما مدد وکړه." ۵ هغهٔ ترې نه
تپوس وکړو، "تا ته څهٔ تکلیف دے؟" هغې ورته ووئیل، "بادشاه سلامت، زهٔ یوه غریبه
کونډه یم، خاوند مې مړ دے. ۶ بادشاه سلامت، زما دوه زامن ؤو او یوه ورځ په پټو
کښې په خپلو کښې په جګړه شول، هلته هیڅ څوک هم نهٔ ؤو چې هغوئ یې خلاص کړی
وے، نو یو هغه بل ووژلو. ۷ او اوس بادشاه سلامت، زما ټول خپلوان زما خِلاف
شوی دی او ما ته وائی چې زهٔ خپل زوئ هغوئ ته حواله کړم، نو چې هغوئ یې د خپل
ورور په بدل ووژنی. کهٔ هغوئ داسې وکړی نو زهٔ به بې‌زویه پاتې شم. هغوئ به زما
آخری اُمید هم ختم کړی او زما یو زوئ به هم نهٔ وی چې د هغې په وجه زما د خاوند
نوم د زمکې په مخ باقی پاتې شی." ۸ بادشاه ورته وفرمائیل، "واپس کور ته لاړه شه،
زهٔ به دا مسئله حل کړم." ۹ هغې ووئیل، "بادشاه سلامت، تهٔ چې څهٔ هم کوې، زهٔ او
زما خاندان به د هغې اِلزام اخلو، تهٔ او ستا شاهی خاندان بې‌ګناه یئ." ۱۰ بادشاه ورته

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وفرمائيل، ”کۀ ځوک تا له دهمکی درکړی نو ما له يې راوله او هغه به هيڅکله هم بيا تا له
تکليف نۀ درکوی.“ ١١ هغې ورته ووئيل، ”بادشاه سلامت، مالِک خُدائ خپل خُدائ
پاک ته سوال وکړه چې تۀ به هيڅ ځوک نۀ پرېږدې چې زما د زوئ نه د مرګ بدل
واخلی، زۀ نۀ غواړم چې نوره وينه توئ شی.“ نو داؤد ورته وئيل، ”زۀ د ژوندی مالِک
خُدائ په نوم قسم کوم چې ستا د زوئ يو وېښتۀ به هم نۀ ضائع کېږی.“ ١٢ هغې ورته
ووئيل، ”بادشاه سلامت، ما له اجازت راکړه چې يوه بله مسئله بيان کړم.“ هغۀ ورته
وفرمائيل، ”ټيک ده ووايه.“ ١٣ هغې ورته ووئيل، ”تا د خُدائ پاک د خلقو سره دومره
بد ولې کړی دی؟ تۀ خپل زوئ له اجازت نۀ ورکوې چې د جلاوطنۍ نه راواپس شی،
اوس اوس چې تا ځۀ ووئيل نو تا په خپله خپل ځان مجرم کړے دے. ١٤ مونږ به ټول
مرو، مونږ په زمکه د تويو شوو اوبو په شان يُو، چې هغه بيا نۀ شی راغونډېدلے. خو
خُدائ پاک د چا هلاکېدل نۀ غواړی او هغه داسې منصوبې جوړوی چې يو شړلے کس
واپس ځان ته راولی. ١٥ اوس بادشاه سلامت، زما تا سره د خبرو کولو دپاره د راتلو
وجه دا ده چې خلقو زۀ يرولم، نو ما د خپل ځان سره ووئيل چې زۀ په دې اُميد تا سره
خبره وکړم چې زۀ ځۀ غواړم نو هغه به وکړې. ١٦ زما خيال دا وو چې تۀ به زما خبره
واورې او د هغه کس نه به مې بچ کړې ځوک چې زما او زما د زوئ د وژلو کوشش
کوی او چې داسې مونږ د هغه مُلک نه لرې کړی چې خُدائ پاک خپلو خلقو له ورکړے
دے. ١٧ ما د خپل ځان سره ووئيل چې بادشاه سلامت، ستا خبرې دې ما له تسلی
راکړی، ځکه چې بادشاه د خُدائ پاک د فرښتې په شان وی او ښۀ د بد نه جدا کوی.
مالِک خُدائ ستا خُدائ پاک دې مل شه.“ ١٨ بادشاه جواب ورکړو، ”زۀ ستا نه يو
تپوس کوم او تۀ به ما ته رښتيا رښتيا وائې.“ هغې جواب ورکړو، ”بادشاه سلامت، ځۀ
چې وئيل غواړې نو هغه ووايه.“ ١٩ هغۀ ترې نه تپوس وکړو، ”دا هر ځۀ په تا باندې
يوآب وکړل ځۀ؟“ هغې ورته ووئيل، ”بادشاه سلامت، زۀ تا ته قسم خورم چې بله لاره
نشته چې جواب درنۀ کړم. په حقيقت سره هغه ستا آفسر يوآب وو چې هغۀ ما ته ووئيل
چې ځۀ به کوم او ځۀ به وايم. ٢٠ خو هغۀ دا د دې دپاره وکړل چې ستا اراده بدله شی.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

بادشاه سلامت، تهٔ د خُدائ پاک د فرښتې په شان هوښيار يې او چې څهٔ کيږی په هغې
باندې پوهيږې.“ ۲۱ وروستو بادشاه يوآب ته وفرمائيل، ”تهٔ چې څهٔ غواړې نو ما د هغې
د کولو فيصله کړې ده. لاړ شه او هغه زلمے ابی‌سلوم ولتوه او واپس يې دلته راوله.“
۲۲ يوآب د عزت نه د داؤد په مخکښې پړمخې پرېوتلو او وې وئيل، ”بادشاه سلامت،
مالِک خُدائ دې تا له برکت درکړی. اوس ما ته پته ولګېده چې تهٔ زما نه خوشحاله يې،
ځکه چې تا زما عرض منلے دے.“ ۲۳ بيا يوآب پاڅېدو او جسور ته لاړو او ابی‌سلوم
يې واپس يروشلم ته راوستو. ۲۴ خو بادشاه حُکم وکړو چې ابی‌سلوم دې په محل کښې
نهٔ اوسيږی. بادشاه وفرمائيل، ”زهٔ د هغهٔ ليدل نهٔ غواړم.“ نو ابی‌سلوم په خپل کور کښې
اوسېدو او د بادشاه مخې له به نهٔ راتلو.

## د ابی‌سلوم د حضرت داؤد سره روغه کول

۲۵ په بنی اِسرائيلو کښې په ښائست کښې د ابی‌سلوم په شان مشهور هيڅ څوک هم نهٔ
وو، د سر نه تر پښو پورې په هغهٔ کښې هيڅ عيب هم نهٔ وو. ۲۶ د هغهٔ وېښتهٔ ګڼ وُو او
هغهٔ به دا په کال کښې يو ځل واړهٔ کول، کله به چې دا اوږدهٔ او درانهٔ شول. دا د بادشاه
د وزن د معيار په مطابق دوه کلو درانهٔ وُو. ۲۷ د ابی‌سلوم درې زامن او يوه يې لور
تامار وه چې هغه ډېره ښائسته جينۍ وه. ۲۸ ابی‌سلوم په يروشلم کښې دوه کاله اوسېدو
او د بادشاه په مخکښې نهٔ حاضرېدو. ۲۹ بيا هغهٔ يوآب راوغوښتو چې ورته ووائی چې
د هغهٔ دپاره بادشاه له لاړ شی، خو يوآب به نهٔ راتلو. ابی‌سلوم هغه بيا راوغوښتو او يوآب
بيا د راتلو نه اِنکار وکړو. ۳۰ نو ابی‌سلوم خپلو نوکرانو ته ووئيل، ”ګورئ، د يوآب پټے
زما سره نزدې دے او اوربشې په کښې شوې دی. لاړ شئ او اور پرې ولګوئ.“ نو
هغوئ لاړل او په پټی يې اور بل کړو. ۳۱ يوآب د ابی‌سلوم کور ته لاړو او ورته يې
ووئيل، ”ستا نوکرانو زما پټی باندې اور ولې بل کړے دے؟“ ۳۲ ابی‌سلوم ورته ووئيل،
”دا ځکه چې کله ما تهٔ راغوښتلې نو تهٔ به نهٔ راتلې. ما غوښتل چې بادشاه له لاړ شې او
هغهٔ ته زما دپاره ووائې چې زهٔ د جسور نه دلته ولې راغلم؟ ښهٔ به دا وے چې زهٔ هلته

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ایسار وے.“ او ابی‌سلوم وئیل، ”زۀ غواړم چې تۀ زما دپاره د بادشاه سره د مِلاوېدو
بندوبست وکړې او کۀ زۀ په غلطه يم، نو هغه دې ما ووژنی.“ ۳۳ نو يوآب داؤد بادشاه
له لاړو او چې ابی‌سلوم څۀ وئيلی وُو هغه يې ورته ووئيل. بادشاه ابی‌سلوم راوغوښتو،
هغه ورله راغلو او د هغۀ په مخکښې زمکې ته ټيټ شو. نو بادشاه ابی‌سلوم ښکل کړو.

## د ابی‌سلوم د بغاوت منصوبه جوړول

۱۵ ۱ د هغې نه پس، ابی‌سلوم د ځان دپاره ګاډیٔ او آسونه تيار کړل او پنځوسو
محافظانو به د دې نه مخکښې منډې وهلې. ۲ هغه به وختی پاڅېدو او لا به ړو او د
ښار د دروازې سره به په لاره کښې ودرېدو. کله به هم چې څوک د يوې لانجې سره هلته
راغلو چې هغۀ به غوښتل چې بادشاه لانجه هواره کړی، نو ابی‌سلوم به هغه راوغوښتو او
تپوس به يې ترې نه وکړو چې هغه د کوم ځائ دے. نو هغه سړی به ورته ووئيل چې زۀ
د بنی اِسرائيلو د يوې قبيلې نه يم، ۳ نو ابی‌سلوم به ووئيل، ”ګوره، ستا دعویٰ په حقه
ده، خو د بادشاه يو داسې سړے نشته چې ستا مسئله واوری.“ ۴ او هغۀ به دا هم
وئيل، ”دا به څومره ښۀ وے چې زۀ قاضی مقرر کړے شوے وے. کۀ بيا د چا لانجه يا
دعویٰ وے نو هغه به ما له راتلے او ما به اِنصاف ورکولے.“ ۵ کله چې هغه سړے
ورله نزدې راغلو چې د ابی‌سلوم په وړاندې ټيټ شی، نو ابی‌سلوم به وروړسېدو، هغه به
يې ونيولو او ښُکل به يې کړو. ۶ ابی‌سلوم داسې د هر يو بنی اِسرائيلی سره کول چې
هغه به د اِنصاف دپاره بادشاه له ورتلو، نو داسې هغۀ د بنی اِسرائيلو زړونه وګټل. ۷
څلور کاله پس ابی‌سلوم داؤد بادشاه ته ووئيل، ”بادشاه سلامت، ما له اجازت راکړه چې
زۀ حبرون ته لاړ شم او چې زۀ هغه لوظ پوره کړم چې ما د مالِک خُدائ سره کړے
دے. ۸ کله چې زۀ په شام کښې په جسور کښې اوسېدم، نو ما د مالِک خُدائ سره
لوظ وکړو چې کۀ هغه ما واپس يروشلم ته بوځی، نو زۀ به په حبرون کښې د هغۀ عبادت
وکړم.“ ۹ بادشاه ورته وفرمائيل، ”په خير لاړ شه.“ نو ابی‌سلوم حبرون ته لاړو. ۱۰

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خو هغهٔ په پټه باندې د بنی اِسرائيلو ټولو قبيلو ته پېغام وړُونکی ولېږل چې ورته ووائی،
”کله چې تاسو د بيګل آواز واورئ نو په چغو ووايئ چې ابیسلوم په حبرون کښې
بادشاه جوړ شوے دے.“ ۱۱ دوه سوه سړی د هغهٔ سره د ابیسلوم په دعوت باندې
يروشلم ته تلی وُو، هغوئ ته د دې منصوبې په حقله هيڅ پته نهٔ وه او ټول په صفا زړهٔ
تلی وُو. ۱۲ کله چې ابیسلوم نذرانې پېش کولې نو هغهٔ اخیتُفل جلونے هم راوغوښتو
څوک چې د داؤد مشير وو، چې د خپل ښار جلوه نه راشی. د بادشاه خِلاف منصوبه
مضبوطه شوه او د ابیسلوم کسان زياتېدل.

## د حضرت داؤد د يروشلم نه تښتېدل

۱۳ يو پېغام وړونکے راغلو او داؤد ته يې ووئيل، ”بنی اِسرائيليان د ابیسلوم وفادار
دی.“ ۱۴ نو داؤد خپلو ټولو آفسرانو ته وفرمائيل چې کوم د هغهٔ سره په يروشلم کښې
وُو، ”کهٔ مونږ د ابیسلوم نه تښتېدل غواړُو نو چې سمدستی وتښتُو. زر شئ. ګنې هغه به
زر دلته راشی، مونږ له به شکست راکړی او په ښار کښې به هر يو کس ووژنی.“ ۱۵
هغوئ جواب ورکړو، ”بادشاه سلامت، آو، تهٔ چې څهٔ وائې نو مونږ د هغې کولو ته تيار
يُو.“ ۱۶ نو بادشاه د خپلې ټول خاندان او آفسرانو سره لاړو، خو هغه خپلې لس وينځې
يې پرېښودلې چې د محل خيال ساتی. ۱۷ کله چې بادشاه او د هغهٔ ټول سړی د ښار نه
تلل، نو هغوئ د لږ مزل نه پس په آخری کور کښې ايسار شول. ۱۸ د هغهٔ ټول آفسران
ورسره ولاړ وُو چې په دې کښې شاهی فوجيان د هغهٔ په مخکښې تېر شول. هغه شپږ
سوه فوجيان هم تېر شول چې د جات نه ورپسې راروان وُو، ۱۹ او بادشاه د هغوئ
مشر اِتی ته وفرمائيل، ”تهٔ مونږ سره ولې ځې؟ واپس شه او د نوی بادشاه سره ايسار
شه. تهٔ مسافر يې، چې د خپل مُلک نه مهاجر شوے يې. ۲۰ تهٔ دلته ډېر لږ وخت
اوسېدلے يې، نو زهٔ تا د ځان سره ولې وګرځوم؟ ما ته په خپله هم دا پته نهٔ لګی چې زهٔ
چرته روان يم. واپس لاړ شه او خپل وطندار د ځان سره بوځه. او مالِک خُدائ دې تا ته

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خپله مِهربانی او وفاداری وښائی.“ ۲۱ خو اِتی ورته ووئیل، ”بادشاه سلامت، زۀ تا ته د
مالِک خُدائ او ستا په سر قسم کوم چې تۀ چرته هم ځې نو زۀ به همېشه تا سره ځم، کۀ
په دې کښې د مرګ خطره هم وی.“ ۲۲ داؤد ورته وفرمائیل، ”ټیک ده، راځئ چې ځُو.“
نو اِتے د خپلو ټولو سړو او بال بچ سره لاړو. ۲۳ چې کله د داؤد ټول کسان لاړل نو
خلقو په چغو چغو وژړل. بادشاه د قِدرون ولې نه واوړېدو، چې خپل سړی ورپسې وُو
او هغوئ په یو ځائ د صحرا طرف ته لاړل. ۲۴ صدوق اِمام هلته وو او لیویانو د هغۀ
سره د لوظ صندوق روان کړے وو. هغوئ دا کېښودو او بیا یې تر هغې پورې اوچت نۀ
کړو چې ټول خلق د ښار نه تلی نۀ وُو. ابیاتار اِمام هم هلته وو. ۲۵ بیا بادشاه صدوق
ته وفرمائیل، ”د لوظ صندوق واپس ښار ته یوسه. کۀ زۀ د مالِک خُدائ په نظر کښې ښۀ
ښکارم، نو یوه ورځ به مې هغه واپس دې صندوق او د هغه ځائ لیدو له راولی چرته چې
دا پروت دے. ۲۶ خو کۀ هغه زما نه رضا نۀ وی نو چې د هغۀ څۀ خوښه وی نو هغه
شان دې راسره وکړی.“ ۲۷ نو هغۀ صدوق ته داسې وئیل، ”ګوره، خپل زوئ اخیمعض
او د ابیاتار زوئ یونتن د ځان سره کړه او په خبر سره واپس ښار ته لاړ شئ. ۲۸ زۀ به
په صحرا کښې د سیند د ګودر په غاړه انتظار کوم تر دې پورې چې ستاسو نه خبر
راورسیږی.“ ۲۹ نو صدوق او ابیاتار د لوظ صندوق واپس یروشلم ته یوړو او هلته
ایسار شول. ۳۰ داؤد په ژړا ژړا د زیتُونو غرۀ ته وختلو، څپلۍ د هغۀ په پښو نۀ وې او د
خفګان نه یې خپل سر پټ کړے وو. چې په هغۀ پسې څوک راروان وُو نو هغوئ هم
سرونه پټ کړی وُو او ژړل یې. ۳۱ کله چې داؤد خبر شو چې اخی‌تُفل په بغاوت کښې
د ابی‌سلوم سره ملګرے شوے دے نو هغۀ داسې دُعا وکړه، ”مالِکه خُدایه، زۀ تا ته
سوال کوم چې د اخی‌تُفل مشوره په کم عقلتوب بدله کړه.“ ۳۲ کله چې داؤد د غرۀ سر
ته ورسېدو، چرته چې د عبادت یو ځائ وو، نو خپل یو اعتباری ملګرے حوسی، ارکے
ورسره مِلاو شو، هغۀ خپلې جامې شلولې وې او په سر یې خاورې پرَتی وې. ۳۳ داؤد
هغۀ ته وفرمائیل، ”کۀ تۀ ما سره ځې نو تۀ به زمونږ دپاره لانجه جوړه کړې، ۳۴ خو تۀ
ما سره دا ښۀ کولے شې چې ښار ته واپس شې او ابی‌سلوم ته ووائې چې تۀ به اوس په

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وفادارئ سره د هغهٔ خِدمت کوي لکه څنګه چې دې د هغهٔ د پلار خِدمت کړے وو. او د اخئتُفل د مشورې ډېر مخالفت کوه. ۳۵ صدوق او ابياتار اِمامان به هلته وی، چې تهٔ د بادشاه په محل کښې څهٔ هم اورې نو هغوئ ته وايه. ۳۶ د هغوئ زامن اخيمعض او يونتن د هغوئ سره دی، هغوئ د هغه ټولو معلوماتو سره ما له راوليږه چې تا راجمع کړې وی." ۳۷ نو د داؤد ملګرے حوسی د ابیسلوم د رارسيدو سره سم ښار ته راوګرځيدو.

## حضرت داؤد او ضيبا

۱۶ ۱ کله چې داؤد د غرهٔ د سر نه لږ مخکښې تلے وو، نو هغه ناڅاپه د مفيبوست د نوکر ضيبا سره مِلاو شو، د هغهٔ سره دوه خرونه وُو چې دوه سوو ډوډو، يو سل موټی کشمشو، سل موټی د اوړی مېوو او د ميو ډکه يوه مشکيزه پرې بار وُو. ۲ داؤد بادشاه ترې نه تپوس وکړو، "تهٔ په دې ټولو څيزونو باندې څهٔ کوې؟" ضيبا ورته ووئيل، "بادشاه سلامت، خرهٔ ستا د خاندان د سورلۍ دپاره دی، روټۍ او مېوې د دې سړو د خوراک دپاره دی او مے د دوئ د څښلو دپاره دی چې کله دوئ په صحرا کښې ستړی وی." ۳ بادشاه ترې نه تپوس وکړو، "ستا د نيک ساؤل نمسے مفيبوست چرته دے؟" ضيبا ورته ووئيل، "هغه په يروشلم کښې ايسار دے، ځکه چې د هغهٔ خيال دا دے چې بنی اِسرائيليان به هغهٔ له د هغهٔ د نيکهٔ ساؤل بادشاهی بيا ورکړی." ۴ بادشاه ضيبا ته وفرمائيل، "د مفيبوست سره چې څهٔ هم دی هغه ستا شول." ضيبا جواب ورکړو، "زهٔ ستا په وړاندې د عزت نه ټيټيږم، بادشاه سلامت، تهٔ دې زما نه هميشه خوشحاله اوسې."

## حضرت داؤد او سِمعی

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۵ کله چې داؤد بادشاه بحوريم ته ورسېدو، نو د ساؤل يو خپلوان د جيرا زوئ سِمعى
د مِلاوېدو دپاره ورله راووتلو، کله چې هغه راروان وو نو کنځل يې کول. ۶ سِمعى
داؤد او د هغۀ آفسران په کاڼو وويشتل، اګر چې د داؤد سره خپل سړى او فوجيان هم
څنګ په څنګ ولاړ وُو. ۷ سِمعى کنځلې کولې او وې ووئيل، "اوځه، اوځه. قاتِله،
مجرمه. ۸ تا د ساؤل نه بادشاهى واخستله او اوس مالِک خُدائ ستا نه بدله اخلى
ځکه چې تا د ساؤل د خاندان ډېر کسان وژلى دى. مالِک خُدائ ستا زوئ ابىسلوم له
بادشاهى ورکړې ده، اے قاتِله، تۀ تباه يې." ۹ ابيشى ووئيل چې د هغۀ مور ضرويا
وه، "بادشاه سلامت، تا دا مردار سپے ولې پرېښودو چې کنځلې درته وکړى؟ ما له
اجازت راکړه چې زۀ ورشم او سر ترې نه پرې کړم." ۱۰ بادشاه ابيشى او د هغۀ ورور
يوآب ته وفرمائيل، "دا ستا کار نۀ دے. کۀ هغه ما ته کنځل کوى او هغۀ ته مالِک خُدائ
دا فرمائيلى وى، نو څوک دا حق لرى چې تپوس ترې نه وکړى چې دا ولې کوې؟" ۱۱
نو داؤد ابيشى او خپلو ټولو آفسرانو ته وفرمائيل، "زما خپل زوئ زما د وژلو کوشش
کوى، تاسو په دې بنيامينى باندې ولې حيرانېږئ؟ مالِک خُدائ ورته فرمائيلى دى چې ما
ته کنځلې وکړى، نو هغه پرېږدئ چې هم داسې کوى. ۱۲ کېدے شى چې مالِک خُدائ
زما مشکل ووينى او نن ما سره د دې کنځلو په بدل کښې ښۀ وکړى." ۱۳ نو داؤد او د
هغۀ سړى په لاره روان وُو. سِمعى هم په نزدې غر باندې روان وو، هغۀ کنځلې کولې او
په روانه کښې يې هغوئ په کاڼو ويشتل او خاورې يې پرې اچولې. ۱۴ کله چې بادشاه
او د هغۀ ټول سړى اُردن ته ورسېدل نو هغوئ سخت ستړى وُو او هلته هغوئ آرام
وکړو.

## ابىسلوم په يروشلم کښې

۱۵ ابىسلوم او د هغۀ سره ټول بنى اِسرائيليان يروشلم ته ننوتل او اخىتُفل د هغوئ
سره وو. ۱۶ کله چې د داؤد اعتبارى ملګرے حوسى د ابىسلوم سره مِلاو شو نو هغۀ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چغه کړه، ”بادشاه سلامت، زنده‌باد. بادشاه سلامت، زنده‌باد.“ ۱۷ ابی‌سلوم ترې نه
تپوس وکړو، ”ستا د خپل دوست داؤد سره وفاداری چرته لاړه؟ تهٔ د هغهٔ سره ولې لا نهٔ
ړې؟“ ۱۸ حوسی ورته ووئیل، ”ما داسې ښنګه کړی وے؟ زهٔ د هغه چا په طرف یم چې
څوک د مالِک خُدائ، دې خلقو او ټولو بنی اِسرائیلو خوښ کړے وی. زهٔ به تا سره
ایسار شم. ۱۹ د دې نه علاوه، زهٔ چې د خپل نیک د زوئ خِدمت نهٔ کوم نو د چا به
کوم؟ ښنګه چې ما ستا د پلار خِدمت کړے دے، نو زهٔ به ستا خِدمت هم کوم.“ ۲۰ بیا
ابی‌سلوم اخی‌تُفل ته وروګرځېدو او ورته یې ووئیل، ”تهٔ مونږ له خپله مشوره راکړه چې
مونږ څهٔ وکړُو؟“ ۲۱ اخی‌تُفل ورته ووئیل، ”لاړ شه او د خپل پلار د وینځو سره ښملاه
کومې یې چې د ځان نه وروستو پرېښودلې دی چې د محل خیال ساتی. نو بیا به په بنی
اِسرائیلو کښې هر چا ته پته ولګی چې تا په ښرګنده د خپل پلار بې‌عزتی کړې ده نو داسې
ستا ملګری به نور هم تکړه شی.“ ۲۲ نو هغوئ د محل په چت باندې د ابی‌سلوم دپاره
یوه خیمه ولګوله او د ټولو خلقو په مخکښې ابی‌سلوم ورننوتلو او د خپل پلار د وینځو
سره ښملاستو. ۲۳ په هغه ورځو کښې به چې اخی‌تُفل کومه مشوره ورکوله نو هغه به
داسې منلے شوه لکه چې دا بلکل د خُدائ پاک خبره وی، داؤد او ابی‌سلوم دواړو به
منله.

## د حوسی ابی‌سلوم بې‌لارې کول

**۱۷** ۱ د هغې ډېر وخت نهٔ وو شوے چې اخی‌تُفل ابی‌سلوم ته ووئیل، ”ما پرېږده
چې دولس زره سړی خوښ کړم او نن شپه زهٔ په داؤد پسې روان شم. ۲ کله چې هغه
ستړے او بې‌حوصلې وی نو زهٔ به په هغهٔ حمله وکړم. هغه به ویرېږی او د هغهٔ ټول
سړی به وتښتی. او زهٔ به صِرف بادشاه ووژنم ۳ او بیا به د هغهٔ ټول سړی تا له داسې
واپس راولم، لکه چې ناوې خپل خاوند له راځی. تاسو غواړئ چې دا یو کس ووژنئ نو
باقی نورو خلقو ته به خبر شی.“ ۴ دا خبره ابی‌سلوم او ټولو بنی اِسرائیلی مشرانو ته

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ښهٔ معلومه شوه. ۵ ابی‌سلوم ووئیل، ”اوس حوسی راوغواړه او چې هغه څهٔ وائی نو
هغهٔ ته به غوږ ونیسو.“ ۶ کله چې حوسی راورسېدو نو ابی‌سلوم ورته ووئیل، ”دا هغه
مشوره ده چې اخی‌تُفل مونږ له راکړې ده، مونږ له پرې عمل کول په کار دی او کهٔ نه؟
کهٔ تهٔ وائې چې نهٔ نو بیا تهٔ مونږ ته ووایه چې څهٔ وکړُو.“ ۷ حوسی ورته ووئیل، ”دې
ځل چې اخی‌تُفل کومه مشوره درکړې ده هغه ښهٔ نهٔ ده. ۸ تا ته پته ده چې ستا پلار او
د هغهٔ سړی تکړه جنګ کوونکی دی او هغوئ داسې غصه دی لکه چې د یو مېلو نه بچی
تښتولے شوی وی. ستا پلار یو تجربه‌کار فوجی دے او د شپې د خپلو سړو سره نهٔ
ایسا ریږی. ۹ کېدے شی چې اوس هم هغه په یو غار کښې یا په بل ځائ کښې پټ
وی. چې څنګه داؤد ستا په سړو باندې حمله وکړی او چې هر څوک هم د دې نه خبر
شی نو وائی به چې ستا ډېر فوجیان وژلی شوی دی. ۱۰ بیا به د ټولو نه تکړه سړے هم
یرېږی د چا چې د ازمری په شان زړهٔ وی ځکه چې په بنی اِسرائیلو کښې هر چا ته پته
ده چې ستا پلار یو لوئ فوجی دے او د هغهٔ سړی تکړه جنګ کوونکی دی. ۱۱ زما
مشوره دا ده چې د مُلک د یو سر نه تر بل سره پورې ټول بنی اِسرائیلیان راغونډ کړه،
لکه چې د سمندر په غاړه څومره شګې دی، د دې دپاره چې تهٔ په خپله په جنګ کښې د
هغوئ نه مخکښې لاړ شې. ۱۲ داؤد چې هر چرته وی مونږ به یې پیدا کړُو او داسې به
ورباندې وروغورزېږو لکه چې په زمکه باندې پرخه پرېوځی. هغه او د هغهٔ سړی به
ژوندی پاتې نهٔ شی. ۱۳ کهٔ هغه ښار ته راوتښتی، نو زمونږ خلق به رسۍ راوړی او ښار
به لاندې مېدان ته راکاږی. یو وړوکے کاڼے به هم پاتې نهٔ شی.“ ۱۴ ابی‌سلوم او ټولو
بنی اِسرائیلو ووئیل، ”د حوسی مشوره د اخی‌تُفل د مشورې نه ښهٔ ده.“ مالِک خُدائ دا
فیصله کړې وه چې د اخی‌تُفل ښهٔ مشوره به نهٔ شی منلے، نو داسې هغه به په ابی‌سلوم
باندې تباهی راولی.

## حضرت داؤد ته خبردارے مِلاویدل او د هغهٔ تښتېدل

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۵ بیا حوسی صدوق او ابیاتار اِمام ته ووئیل، ”دا هغه څۀ دی چې اخی‌تُفل ابی‌سلوم
او د بنی اِسرائیلو مشرانو ته وئیلی دی او دا هغه څۀ دی چې ما يې مشوره ورکړې ده.“
۱۶ حوسی دا هم ووئیل، ”زر شئ، داؤد له پېغام ولېږئ چې د سیند سره هغه ځائ
کښې شپه تېره نۀ کړی چرته چې اوبۀ کمې دی او خلق په کښې اوړی راوړی او د اُردن
سیند نه دې سمدستی پورې وځی او صحرا ته دې لاړ شی، نو هغه او د هغۀ سړی به نۀ
ګېرېږی او نۀ به مری.“ ۱۷ د ابیاتار زوئ یونتن او د صدوق زوئ اخیمعض د
عین‌راجل د چینې سره اِنتظار کولو، چې د یروشلم په بهرنۍ غاړه باندې وه، ځکه چې
هغوئ دا جرأت نۀ شو کولے چې ښار ته د ننوتلو په وخت ولیدے شی. یوه نوکره ښځه
به هر وخت تلله او چې څۀ کېدل نو هغوئ ته به يې ووئیل او بیا به هغوئ تلل او داؤد
بادشاه ته به يې وئیل. ۱۸ خو یوه ورځ یو هلک هغوئ ولیدل او هغۀ ابی‌سلوم ته ووئیل،
نو هغوئ تیز لاړل چې په بحوریم کښې د یو سړی په کور کښې پټ شی. د هغۀ د کور
سره نزدې د هغۀ کوهے وو او هغوئ هغه کوهی ته ورکوز شول. ۱۹ د هغه سړی ښځې
تخته واخستله، د کوهی په خولۀ باندې يې کېښوده او په دې باندې يې غله وشیندله، نو
چې هیڅ څوک دا شک ونۀ کړی چې هغوئ دلته وُو. ۲۰ د ابی‌سلوم آفسران هغه کور ته
راغلل او د هغه ښځې نه يې تپوس وکړو، ”اخیمعض او یونتن چرته دی؟“ هغې ورته
ووئیل، ”هغوئ د سیند نه پورې وتی دی.“ هغه سړو هغوئ ولټول خو پېدا يې نۀ کړل، نو
هغوئ یروشلم ته راواپس شول. ۲۱ د هغوئ د تلو نه پس، اخیمعض او یونتن د کوهی
نه راووتل او لاړل او داؤد بادشاه له يې خبر ورسولو. هغوئ د هغۀ خِلاف د اخی‌تُفل د
منصوبې نه خبر کړو او ورته يې ووئیل، ”زر شه، او د سیند نه پورې وځه.“ ۲۲ نو داؤد
او د هغۀ ټول سړی د اُردن سیند نه په پورې وتلو شروع وکړه او تر سحر د رڼا پورې
ټول بلې غاړې ته پورې وتل. ۲۳ کله چې اخی‌تُفل ته پته ولګېده چې د هغۀ په مشوره
عمل نۀ دے شوے، نو هغۀ خپل خر کته کړو او خپل ښار ته واپس لاړو. کله چې هغۀ
خپلې ټولې معاملې هوارې کړې نو هغۀ خپل ځان پهانسی کړو او مړ شو. هغه د خپل
خاندان په ادیره کښې ښخ شو. ۲۴ داؤد د محنایم ښار ته په هغه وخت رسېدلے وو

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې څۀ وخت ابی‌سلوم او بنی اِسرائیلیان د اُردن سیند نه پورې وتلی ؤو. ۲۵ ابی‌سلوم
د یوآب په ځائ عماسا د لښکر مشر جوړ کړے وو. عماسا د اِسمٰعیلی اِتر زوئ وو، د
هغۀ مور ابی‌جیل وه، چې هغه د ناحس لور او د یوآب د مور ضرویاه خور وه. ۲۶
ابی‌سلوم او د هغۀ سړو د جِلعاد په مُلک کښې خیمې لګولې وې. ۲۷ کله چې داؤد
محنایم ته ورسیدو، نو هغه د ناحس د زوئ سوبی سره مِلاو شو، چې هغه په ربه ښار
کښې د عمون د قبیلې وو، د عمی‌ایل زوئ مکیر سره چې د لودبار وو او د جِلعاد د قبیلې
د برزلی سره هم مِلاو شو، برزلی د راجلیم وو. ۲۸-۲۹ هغوئ جامونه، د خاورو لوښی،
بسترې او داؤد او د هغۀ د سړو دپاره خوراک هم راوړو لکه غنم، اوربشې، اوړۀ، وریتې
دانې، کوربشې، دالونه، شات، پنیر، ماستۀ او داسې څۀ ګډې هم. هغوئ ته پته وه چې
داؤد او د هغۀ سړی به په صحرا کښې اوږی، تږی او ستړی وی.

## د ابی‌سلوم شکست او وژلے کېدل

۱۸ ۱ داؤد بادشاه خپل ټول سړی راغونډ کړل او د زرو او سلو کسانو په ډلو کښې
یې تقسیم کړل او په دوئ باندې یې د مشرئ دپاره آفسران مقرر کړل. ۲ بیا یې هغوئ
په دریو ډلو کښې ولېږل، چې د هرې یوې قبیلې خپل مشر وو، یوآب او د یوآب ورور
ابیشے او د جات اِتے وو. او بادشاه خپلو سړو ته وفرمائیل، ”زۀ به په خپله تاسو سره
ځم.“ ۳ خو هغوئ ورته ووئیل، ”تۀ به مونږ سره نۀ ځې، کۀ زمونږ باقی ټول کسان
واپس شی او وتښتی نو په دشمن به څۀ فرق پرې نۀ وځی، یا کۀ زمونږ نیم کسان هم
ووژلے شی، خو تۀ زمونږ د لسو زرو نه ښۀ یې. ښۀ به دا وی چې تۀ په ښار کښې ایسار
شې او مونږ له مدد رالېږې.“ ۴ بادشاه ورته وفرمائیل، ”څۀ چې تاسو ته ښۀ ښکاری
نو زۀ به هم هغه شان کوم.“ نو چې کله د هغۀ سړی د زرګونو او سلګونو په ډلو کښې
روان ؤو نو هغه د ښار د دروازې په خوا کښې ایسار شو. ۵ هغۀ یوآب، ابیشی او اِتی
له دا حُکم ورکړو، ”زما د خاطره ابی‌سلوم ته نقصان مۀ رسوئ.“ او چې داؤد دا حُکم

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خپلو آفسرانو له ورکولو نو ټولو فوجيانو واورېدو. ۶ د داؤد لښکر مېدان ته لاړو او د
اِفرائيم په ځنګل کښې يې د بنی اِسرائيلو سره جنګ وکړو. ۷ بنی اِسرائيلو د داؤد د
سړو نه شکست وخوړو، او دا دومره سخت شکست وو چې په هغه ورځ شل زره سړی
ووژلے شول. ۸ جنګ په ټول مُلک کښې خور شو او چې په جنګ کښې څومره
سړی مړهٔ وُو نو د هغې نه زيات په ځنګل کښې مړهٔ شول. ۹ ابی‌سلوم ناڅاپه د داؤد
يو څو سړو سره مِلاو شو. ابی‌سلوم په يو قچر باندې سور وو او قچر د څېړۍ يوې لوئې
ونې لاندې ننوتلو، نو د ابی‌سلوم سر په څانګو کښې ونښتو. قچر منډه کړه او ابی‌سلوم په
هوا کښې ترې نه ځوړند پاتې شو. ۱۰ د داؤد يو سړی هغه وليدو او يوآب يې خبر کړو،
”صاحِبه، ما ابی‌سلوم وليدو چې د څېړۍ په ونه کښې ځوړند وو.“ ۱۱ يوآب ورته
ووئيل، ”تا چې هغه وليدو نو هغه دې هم هلته ولې نهٔ وژلو؟ نو ما به تا له په خپل لاس د
سپينو زرو لس سيکې او يو فوجی کمربند درکړے وے.“ ۱۲ خو هغه سړی ورته
ووئيل، ”کهٔ تا ما له زر د سپينو زرو سيکې هم راکړے وے، نو ما به د بادشاه د زوئ
خِلاف لاس نهٔ وو اوچت کړے. مونږ ټولو اورېدلی دی چې بادشاه تا، ابيشی او اِتی له
حُکم درکړے دے چې زما په خاطر ابی‌سلوم زلمی ته نقصان مهٔ رسوئ. ۱۳ خو کهٔ ما
د بادشاه نافرمانی کړے وے او ابی‌سلوم مې وژلے وے، نو بادشاه به د دې نه خبر
شوے وے، هغه د هر څهٔ نه خبرېږی او تا به زهٔ نهٔ وے بچ کړے.“ ۱۴ يوآب ووئيل،
”زهٔ تا سره نور وخت نهٔ ضائع کوم.“ هغهٔ درې نېزې واخستلې او د ابی‌سلوم په سينه
کښې يې ننويستلې چې هغه لا ژوندے وو او د څېړۍ په ونه کښې ځوړند وو، ۱۵ بيا د
يوآب لس فوجيان ابی‌سلوم ته رانزدې شول او هغه يې مړ کړو. ۱۶ نو يوآب حُکم وکړو
چې د جنګ د ودرېدو دپاره دې شپېلۍ وغږولے شی او د هغهٔ فوجيان په بنی اِسرائيلو
پسې تلو نه راواپس شول. ۱۷ هغوئ د ابی‌سلوم لاش واخستلو او په ځنګل کښې يې په
يوه ډُويه کنده کښې وغورزولو او د کاڼو په يو ډېری باندې يې پټ کړو. ټول بنی
اِسرائيليان خپلو کورونو ته وتښتېدل. ۱۸ ابی‌سلوم په خپل ژوند کښې د خپل ځان دپاره
په شاهی وادۍ کښې يو يادګار جوړ کړے وو، ځکه چې د هغهٔ زامن نهٔ وُو چې د هغهٔ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نوم ژوندے پاتې شی. نو په دې باندې يې خپل نوم کېښودو او تر نن ورځې پورې دا د
ابی‌سلوم په يادګار مشهور دے.

## د حضرت داؤد د ابی‌سلوم د مرګ نه خبرېدل

۱۹ بيا د صدوق زوئ اخيمعض يوآب ته ووئيل، ”ما پرېږده چې د دې زېرى سره
بادشاه له ورمنډه کړم چې مالِک خُدائ هغه د خپلو دشمنانو نه بچ کړے دے.“ ۲۰
يوآب ووئيل، ”نه، نن به ته پېغام نۀ وړې بله ورځ به يې يوسې، ځکه چې د بادشاه زوئ
مړ دے.“ ۲۱ بيا هغۀ خپل د ايتهوپيا غلام ته ووئيل، ”لاړ شه تا چې څۀ ليدلى وى هغه
بادشاه ته ووايه.“ غلام ټيټ شو او منډه يې کړه. ۲۲ اخيمعض ورته بيا بيا وئيل، ”چې
څۀ کيږى نو هغه به کيږى خو ما پرېږده چې خبر يوسم.“ يوآب ترې نه تپوس وکړو،
”زما زويه، ته داسې ولې کوې؟ تا ته به د دې هيڅ فائده مِلاو نۀ شى.“ ۲۳ اخيمعض بيا
ووئيل، ”چې څۀ هم کيږى زۀ تلل غواړم.“ يوآب ورته ووئيل، ”نو بيا لاړ شه.“ نو
اخيمعض لاندې د اُردن په مېدان کښې په سړک باندې منډه کړه او زر د غلام نه
مخکښې تېر شو. ۲۴ داؤد ښار ته د ننوتو او بهر ته راوتو دروازو په مينځ کښې ناست
وو. محافظ د دېوال سر ته وختلو او د دروازې په خولۀ کښې په چت باندې ودرېدو، هغۀ
بهر وکتل او وې ليدل چې يو سړے يواځې منډې راوهى. ۲۵ هغۀ لاندې آواز وکړو او
بادشاه يې خبر کړو او بادشاه وفرمائيل، ”کۀ هغه يواځې وى، نو هغۀ به يو زېرے راروان
کړے وى.“ هغه منډه وهونکے نور هم رانزدې کېدو. ۲۶ محافظ يو بل سړے وليدو چې
يواځې يې منډې وهلې او هغۀ لاندې د دروازې محافظ ته آواز وکړو، ”ګوره، يو بل سړے
هم منډې راوهى.“ بادشاه ورته وفرمائيل، ”هغۀ هم زېرے راروان کړے دے.“ ۲۷
محافظ ووئيل، ”هغه وړومبے سړے داسې منډې وهى لکه چې اخيمعض وى.“ بادشاه
ورته وفرمائيل، ”هغه ښۀ سړے دے او هغه به يو ښۀ زېرے راوړى.“ ۲۸ اخيمعض
بادشاه ته آواز وکړو، د هغۀ په مخکښې زمکې ته ټيټ شو او وې وئيل، ”د مالِک خُدائ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ستا د خُدائ پاک ثناء صِفت دې وى، بادشاه سلامت. هغۀ تا له په هغه سړو باندې فتح
درکړې ده چا چې ستا خِلاف بغاوت کړے وو.“ ۲۹ بادشاه تپوس وکړو، ”ولې هغه
زلمے ابى‌سلوم بچ دے؟“ اخيمعض ورته ووئيل، ”بادشاه سلامت، کله چې ستا آفسر
يوآب زۀ ولېږلم، نو ما د خلقو يوه لويه ګڼه وليده، خو ما ته پته ونۀ لګېده چې دا د څۀ
ګڼه وه.“ ۳۰ بادشاه ورته وفرمائيل، ”هلته ودرېږه.“ نو هغه لاړو او هلته ودرېدو. ۳۱
بيا هغه د ايتهوپيا غلام راورسېدو او بادشاه ته يې ووئيل، ”بادشاه سلامت، ستا دپاره ما
سره يو زېرے دے، مالِک خُدائ تا له نن په هغه ټولو باندې فتح درکړې ده چا چې ستا
خِلاف بغاوت کړے دے.“ ۳۲ بادشاه تپوس وکړو، ”هغه زلمے ابى‌سلوم بچ دے څۀ؟“
غلام ورته ووئيل، ”بادشاه سلامت، زۀ غواړم چې په هغۀ باندې څۀ شوى دى چې هغه
ستا په ټولو دشمنانو او په هغوئ باندې شوى وے چا چې د بادشاه خِلاف بغاوت کړے
دے.“ ۳۳ بادشاه ډېر غمژن شو. د ښار په دروازه بره کوټې ته وختلو او ژړل يې او په
چغو چغو يې ژړل، ”اے زما بچيه، زما زويه، ابى‌سلومه، ابى‌سلومه، زما زويه. کاش چې
ستا په ځائ زۀ مړ وے، زما زويه. ابى‌سلومه، زما زويه.“

## د يوآب پښېمانه کېدل

۱۹ ۱ يوآب خبر شو چې داؤد بادشاه ژاړى او د ابى‌سلوم په غم غمژن دے. ۲
نو په هغه ورځ د داؤد د ټولو فوجيانو د فتحې خوشحالى په غم بدله شوه، ځکه چې
هغوئ خبر شول چې بادشاه په خپل زوئ باندې غم کوى. ۳ هغوئ پټ پټ ښار ته
واپس لاړل، لکه څنګه چې هغه فوجيان شرمېږى چې کوم د جنګ نه تښتى. ۴ بادشاه
خپل مخ پټ کړے وو او په چغو چغو يې ژړل، ”اے زما زويه، زما زويه ابى‌سلومه.
ابى‌سلومه، زما زويه.“ ۵ يوآب د بادشاه کور ته لاړو او ورته يې ووئيل، ”تا نن خپل
هغه سړى سپک کړى دى چا چې ستا، ستا د زامنو، لوڼو، ستا د ښځو او ستا د وينځو
ژوند بچ کړے وو. ۶ تۀ د هغه چا مخالفت کوې چې څوک درسره مينه کوى او چې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ځوک درنه نفرت کوی نو د هغوئ ملګرتیا کوې. تا دا خبره صفا کړې ده چې تا سره د
خپلو آفسرانو او سړو هیڅ قدر نشته. ما ته پته ده چې تهٔ به نن ښهٔ خوشحاله وې چې
ابی‌سلوم ژوندے وے او مونږ ټول مړهٔ وے. ۷ اوس لاړ شه او د خپلو سړو حوصله
افزائی وکړه خو کهٔ تا داسې ونهٔ کړل نو زهٔ د مالِک خُدائ په نوم قسم خورم چې تر سبا
سحر پورې به د هغوئ یو کس هم تا سره نهٔ وی. دا به دومره لوئ مصیبت وی چې په
ټول ژوند کښې به داسې مصیبت دربانديې نهٔ وی تېر شوے.“ ۸ نو بادشاه پاڅېدو،
لاړو او د ښار د دروازې سره نزدې کښېناستو. د هغهٔ سړی خبر شول چې هغه هلته دے
او ټول ترې نه ګېرچاپېره راټول شول.

## د حضرت داؤد یروشلم ته واپس روانېدل

په دې دوران کښې ټول بنی اِسرائیلیان خپلو کورونو ته تښتېدلی وُو. ۹ په ټول مُلک
کښې هغوئ په خپلو کښې په لانجه شول. هغوئ یو بل ته ووئیل، ”داؤد بادشاه مونږ د
خپلو دشمنانو نه بچ کړُو. هغهٔ مونږ د فلستیانو نه بچ کړُو، خو هغه اوس د ابی‌سلوم نه
وتښتېدو او مُلک یې پرېښودو. ۱۰ مونږ ابی‌سلوم خپل بادشاه مقرر کړو، خو هغه په
جنګ کښې وژلے شوے دے. نو ځوک داؤد بادشاه واپس ولې نهٔ راولی؟“ ۱۱ بنی
اِسرائیلو چې څهٔ وئیل نو هغه خبر داؤد بادشاه ته ورسېدو. نو هغهٔ صدوق او ابیاتار
اِمامان ولېږل چې د یهوداه د مشرانو نه تپوس وکړی، ”تاسو دې ولې هغه آخری قبیله یئ
چې د داؤد بادشاه محل ته د واپس راوستلو خیال لرئ؟ ۱۲ تاسو زما خپلوان یئ او
زما خپله وینه یئ، تاسو دې ولې هغه آخری قبیله یئ چې ما واپس بوځئ؟“ ۱۳ داؤد
هغوئ ته دا هم وفرمائیل چې عماسا ته ووائی، ”تهٔ زما رشته‌دار یې. د نن نه زهٔ تا د یوآب
په ځائ د لښکر مشر مقرروم. خو کهٔ ما داسې ونهٔ کړل نو خُدائ پاک دې ما هلاک
کړی.“ ۱۴ د داؤد په خبرو باندې د یهوداه ټول سړی د هغهٔ ملګری شول او هغوئ هغهٔ
له خبر ولېږلو چې د خپلو ټولو آفسرانو سره واپس راشی. ۱۵ نو بادشاه راواپس شو او

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د اُردن سيند ته ورسېدو. نو د يهوداه خلق جِلجال ته راغلى وُو چې د بادشاه سره مِلاو
شى او د اُردن سيند نه يې پورې باسى. ۱۶ هم په هغه وخت د بحوريم د علاقې د جيرا
زوئ سِمعى بنيامينے د اُردن سيند له تېز لاړو چې د داؤد بادشاه سره مِلاو شى. ۱۷ د
هغهٔ سره د بنيامين د قبيلې زر سړى وُو. او د ساؤل د خاندان نوکر ضيبا هم د خپلو
پينځلسو زامنو او شلو نوکرانو سره راغلو او هغوئ د بادشاه نه مخکښې د اُردن سيند نه
پورې وتل. ۱۸ هغوئ په ګودر د سيند نه پورې وتل چې د شاهى خاندان په پورې وتلو
کښې مدد وکړى او چې هغه څهٔ وکړى څهٔ چې بادشاه غوښتل.

## د حضرت داؤد په سِمعى باندې ترس کول

کله چې بادشاه د سيند نه پورې وتو، نو د جيرا زوئ سِمعى د هغهٔ په مخکښې پړمخې
پرېوتو ۱۹ او وې وئيل، "بادشاه سلامت، زما هغه غلطى معاف کړه چې په کومه ورځ
تهٔ د يروشلم نه تلې او ما کړې وه. او هغه د زړهٔ نه وباسه. ۲۰ صاحِبه، ما ته پته ده چې
ما ګناه کړې ده، نو دا څکه زهٔ د شمالى قبيلو نه وړومبے کس يم چې نن تا سره بادشاه
سلامت مِلاوېدو له راغلے يم." ۲۱ د ضروياه زوئ ابيشى وئيل، "سِمعى دې ووژلے
شى څکه چې هغهٔ هغه چا ته کنځل کړى دى څوک چې مالِک خُدائ خوښ کړے دے
چې بادشاه شى." ۲۲ خو داؤد ابيشى او د هغهٔ ورور يوآب ته وفرمائيل، "ستاسو نه چا
مشوره غوښتې ده؟ تاسو نن زما دشمنان شوى يئ؟ زهٔ اوس هغه څوک يم چې د بنى
اِسرائيلو بادشاه يم او نن به يو بنى اِسرائيلے هم نهٔ شى وژلے." ۲۳ او هغهٔ سِمعى ته
وفرمائيل، "زهٔ تا سره وعده کوم چې تهٔ به نهٔ شې وژلے."

## د حضرت داؤد په مفيبوست باندې ترس کول

۲۴ بيا د ساؤل نمسے مفيبوست راغلو چې د بادشاه سره مِلاو شى. د هغه وخت نه
واخله چې بادشاه د يروشلم نه تلے وو تر هغې پورې چې هغه کامياب راواپس شو

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

مفيبوست نۀ خپلې پښې وينځلې وې، نۀ يې خپله ږيره سمه کړې وه او نۀ يې خپلې جامې
وينځلې وې. ۲۵ کله چې مفيبوست د يروشلم نه راورسېدو چې د بادشاه سره مِلاو
شی، نو بادشاه هغۀ ته وفرمائيل، ”مفيبوسته، تۀ ما سره ولې نۀ وې تلے؟“ ۲۶ هغۀ ورته
ووئيل، ”بادشاه سلامت، لکه څنګه چې تا ته پته ده چې زۀ ګوډ يم. ما خپل نوکر ته
ووئيل چې زما خر کته کړی نو چې زۀ تا سره لاړ شم، خو هغۀ ما سره دوکه وکړه. ۲۷
بادشاه سلامت، هغۀ زما په حقله تا ته دروغ وئيلی دی، خو تۀ د خُدائ پاک د فرښتې په
شان يې او چې تا ته څۀ ټيک ښکاری نو هغه وکړه. ۲۸ بادشاه سلامت، زما د پلار
مکمل خاندان د دې حقداره ده چې ووژلے شی، خو تا زۀ د دې حقدار کړم چې ستا د
دسترخوان روټۍ وخورم. بادشاه سلامت، زۀ هيڅ حق نۀ لرم چې تا ته د رحم فرياد
وکړم.“ ۲۹ بادشاه ورته وفرمائيل، ”تۀ به نور هيڅ نۀ وائې. ما دا فېصله کړې ده چې تۀ
او ضيبا به د ساؤل جائيداد په خپلو کښې تقسيم کړئ.“ ۳۰ مفيبوست ورته ووئيل،
”پرېږده چې دا ټول د ضيبا شی. بادشاه سلامت، زما دپاره دا کافی ده چې تۀ په خېر
سره کور ته راغلے يې.“

## د حضرت داؤد په برزلی باندې ترس کول

۳۱ د جِلعاد برزلی هم د راجليم نه راغلے وو چې د بادشاه د اُردن سيند نه پورې وتو
کښې ملګرتيا وکړی. ۳۲ برزلی ډېر بوډا سړے وو چې د اتياو کالو وو. هغه ډېر مالداره
وو او کله چې بادشاه په محنايم کښې اوسېدو نو برزلی به خوراک ورلېږلو. ۳۳ بادشاه
هغۀ ته وفرمائيل، ”ما سره يروشلم ته لاړ شه، چې کله تۀ ما سره يې نو زۀ به ستا خيال
ساتم.“ ۳۴ خو برزلی ورته ووئيل، ”بادشاه سلامت، زۀ به نور څومره ژوندے يم، چې
زۀ تا سره يروشلم ته لاړ شم؟ ۳۵ زۀ د اتياو کالو يم، او يو څيز هم ما له مزه نۀ راکوی.
زۀ چې خوراک څښاک کوم نو د هغې په خوند نۀ پوهېږم او زۀ د سندرغاړو آوازونه نۀ
اورم. بادشاه سلامت، زۀ به تاسو باندې صِرف بوج يم. ۳۶ زۀ د داسې يو لوئ اِنعام

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

حقدار نهٔ يم، خو زهٔ به د اُردن نه اخوا لږ غوندې تا سره لاړ شم. ۳۷ بيا به زهٔ واپس
کور ته راشم چې په خپل ښار کښې د خپل مور پلار د اديرې سره نزدې مړ شم. زما
زوئ کِمهام دا دے حاضر دے، دے به ستا خِدمت کوی، هغه ځان سره بوځه، بادشاه
سلامت. د هغهٔ دپاره هغه څهٔ کوه چې تا ته ښهٔ ښکاری." ۳۸ بادشاه ورته وفرمائيل،
"زهٔ به هغه ځان سره بوځم او چې تهٔ څهٔ غواړې نو زهٔ به يې د هغهٔ دپاره وکړم. او ستا
دپاره به هغه څهٔ وکړم چې تهٔ څهٔ غواړې." ۳۹ بيا داؤد او د هغهٔ ټول سړی د اُردن
سيند نه پورې وتل. هغهٔ برزلی ښکُل کړو او د هغهٔ دپاره يې خپل برکت وغوښتلو او
برزلی واپس کور ته لاړو.

## د يهوداه او د اِسرائيل د بادشاه په حقله بحث کول

۴۰ کله چې بادشاه پورې وتلو او د يهوداه ټول فوجيان او د اِسرائيل نيم فوجيان ورسره
ملګری وُو، نو هغه جِلجال ته لاړو او کِمهام هم ورسره وو. ۴۱ بيا ټول اِسرائيليان
بادشاه له لاړل او هغهٔ ته يې ووئيل، "بادشاه سلامت، زمونږ وروڼه يعنې د يهوداه سړی
دا خيال ولې کوی چې هغوئ دا حق لرلو چې تا بوځی او چې ستا، ستا د خاندان او
ستا د سړو د اُردن نه پورې وتو کښې ملګرتيا وکړی؟" ۴۲ د يهوداه سړو ورته ووئيل،
"دا مونږ ځکه وکړل چې بادشاه زمونږ خپلوان دے. نو په دې باندې تاسو ولې غصه يئ؟
مونږ د هغهٔ په پيسو نهٔ خوراک کړے دے او نهٔ هغهٔ مونږ له څهٔ راکړی دی." ۴۳ د
اِسرائيل خلقو ورته ووئيل، "تاسو چې څومره دعویٰ کوئ نو مونږ د هغې يو په لس
دعویٰ کوُو چې داؤد زمونږ نه دے، اګر کهٔ هغه ستاسو د نسل نه هم وی. تاسو مونږ ته
ولې سپک ګورئ؟ تاسو دا مهٔ هېروئ چې مونږ هغه وړومبی خلق وُو چې د بادشاه
واپس راوستلو خبره مو کړې وه." خو د يهوداه سړی د اِسرائيل د سړو نه په خپلو دعوو
کولو کښې ډېر سخت وُو.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د شيبا بغاوت

۲۰ ۱ په جِلجال کښې داسې وشول چې د بنيامين د قبيلې يو بدمعاش سړے وو.
هغه د بِکری زوئ وو او نوم يې شيبا وو. هغۀ بيګل وغږولو او چغه يې کړه، ”نۀ به د داؤد
نه په ميراث کښې مونږ ته څۀ مِلاو شی او نۀ مونږ ته د هغۀ نه د مِلاويدو څۀ اُميد شته.
اے بنی اِسرائيلو راځئ چې خپلو کورونو ته ځُو.“ ۲ نو داسې اِسرائيليانو د داؤد
خِلاف بغاوت وکړو او د شيبا سره روان شول، خو د يهوداه سړی وفادار ؤو او د اُردن
نه تر يروشلم پورې په داؤد پسې لاړل. ۳ کله چې داؤد په يروشلم کښې خپل محل ته
ورسيدو، هغۀ هغه لس وينځې بوتلې چې کومې يې د محل د خيال ساتلو دپاره پرېښې وې
او په حِفاظت کښې يې ساتلې وې. هغوئ له يې د ضرورت څيزونه ورکول، خو د هغوئ
سره يې څملاستل نۀ کول. په هغوئ باندې ټول عُمر دا پابندی وه چې د کونډو په شان
ژوند تيروی. ۴ بادشاه عماسا ته وفرمائيل، ”د يهوداه سړی راغونډ کړه او سبا نه بل
سبا د هغوئ سره حاضر شه.“ ۵ عماسا د هغوئ د راغونډولو دپاره لاړو، خو چې
بادشاه کوم وخت مقرر کړے وو نو هغه هغې له واپس رانۀ غلو. ۶ نو بادشاه ابيشی
ته وفرمائيل، ”شيبا به مونږ له د ابی‌سلوم نه زيات مصيبت جوړوی. زما سړی بوځه او
په هغۀ پسې لاړ شه، ګنې کېدے شی چې هغه د پَخو ديوالونو والا ښارونه ونيسی او
زمونږ نه وتښتی.“ ۷ نو د يوآب سړی او محافظان د ابيشی سره د يروشلم نه روان
شول چې په شيبا پسې لاړ شی. ۸ چې کله هغوئ په جبعون کښې لوئ ګټ ته ورسيدل
نو عماسا ورسره مِلاو شو. يوآب د جنګ دپاره زغره اغوستې وه، تُوره يې په کاش کښې
اېښې وه چې په کمربند پورې يې تړلې وه. چې وړاندې راغلو، نو تُوره وغورزيدله. ۹
يوآب عماسا ته ووئيل، ”زما ملګريه خنګه يې؟“ او د چل دپاره يې خپل ښے لاس د هغۀ
ږيرې له وروړلو چې ښُکل يې کړی. ۱۰ چې کومه تُوره د يوآب په بل لاس کښې وه نو
هغې ته د عماسا خيال نۀ وو او يوآب هغه ورباندې په خيټه ووهلو او کولمې ترې نه بهر
په زمکه وغورزيدې، هغه په ټکی مړ شو او يوآب ته د هغۀ د بيا وهلو ضرورت پېښ نۀ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

شو. بيا يوآب او د هغهٔ ورور ابيشے په شيبا پسې روان شول. ١١ د يوآب يو سړے د
عماسا د لاش سره ودرېدو او آواز يې وکړو، ”څوک چې د يوآب او داؤد ملګرتيا کوى
نو هغوئ دې په يوآب پسې روان شى.“ ١٢ د عماسا لاش په وينو کښې لت پت وو او د
سړک په مينځ کښې پروت وو. د يوآب سړى دا وليدل چې هر يو کس ورته د تماشې
دپاره ودرېږى، نو هغهٔ لاش د سړک نه پټى ته راښکلو او څادر يې ورباندې واچولو. ١٣
کله چې هغه لاش د سړک نه لرې کړے شو، نو هر يو کس د يوآب سره په شيبا پسې
روان شو. ١٤ شيبا د بنى اِسرائيلو د ټولو قبيلو د علاقې نه تېر شو او د ابيل‌بيت‌معکه
ښار ته راغلو او د بِکرى د قبيلې کسان راغونډ شول او په هغهٔ پسې ښار ته ننوتل. ١٥ د
يوآب سړى خبر شول چې شيبا هلته دے، نو هغوئ لاړل او ښار يې محاصره کړو.
هغوئ بهرنى دېوالونو ته د خاورو ډېرى جوړ کړل او دېوال کنستل يې هم شروع کړل چې
دا راوغورزيږى. ١٦ هلته په ښار کښې يوه هوښياره ښځه وه چې هغې د دېوال نه چغه
کړه، ”اے خلقو واورئ. يوآب ته ووايئ چې دلته راشى، زهٔ د هغهٔ سره خبرې کول
غواړم.“ ١٧ نو يوآب لاړو او هغې ترې نه تپوس وکړو، ”تهٔ يوآب يې څهٔ؟“ هغهٔ ورته
ووئيل، ”آو، زهٔ يوآب يم.“ هغې ورته ووئيل، ”صاحِبه، زما خبره واوره.“ هغهٔ ورته
ووئيل، ”زهٔ اورم وايه.“ ١٨ هغې ورته ووئيل چې، ”په خوا به خلقو وئيل، لاړ شه او د
ابيل په ښار کښې به درته د مسئلې حل مِلاو شى، نو چې هغوئ به لاړل نو مسئله به حل
شوه. ١٩ زمونږ يو عظيم ښار دے، چې په بنى اِسرائيل کښې ډېر د وفا او امن نه ډک
دے. دا تهٔ ولې تباه کوې؟ تهٔ هغه څهٔ ورانول غواړې څهٔ چې د مالِک خُدائ دى؟“ ٢٠
يوآب ورته ووئيل، ”هيچرې نه. زهٔ به ستاسو ښار هيڅکله تباه او وران نهٔ کړم. ٢١
زمونږ منصوبه دا نهٔ ده. د يو سړى نوم شيبا دے چې هغه د بِکرى زوئ دے، هغه د
غرونو د مُلک د اِفرائيم دے، هغهٔ د داؤد بادشاه خِلاف بغاوت شروع کړے دے. بس دا
يو سړے ما له په لاس کښې راکړه، نو زهٔ به د ښار نه ووځم.“ هغې ورته ووئيل، ”مونږ به
د هغهٔ سر تا ته د دېوال نه دروغورزوُو.“ ٢٢ بيا هغه د خپلې منصوبې سره د ښار خلقو
له لاړه، هغوئ د شيبا سر پرې کړو او يوآب ته يې د دېوال نه وروغورزولو. هغهٔ د دې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دپاره بيګل وغږولو چې د هغهٔ سړی د ښار نه لاړ شی، نو هغوئ واپس کورونو ته لاړل.
او يوآب واپس بادشاه له يروشلم ته راغلو.

## د حضرت داؤد آفسران

۲۳ يوآب د اِسرائيلو د لښکر مشر وو، د يهويدع زوئ بناياه د داؤد د محافظانو مشر
وو، ۲۴ ادورام د هغه مزدورانو مشر وو چې په زور کار ترې نه اخستے شو، د اخيلود
زوئ يهوسفط منشی وو، ۲۵ سِوا د دربار منشی وو، صدوق او ابياتار اِمامان وُو، ۲۶
او د يائير د ښار عيرا هم د داؤد يو اِمام وو.

## د ساؤل د اولاد قتل کېدل

۲۱ ۱ د داؤد په بادشاهئ کښې درې کاله ډېر سخت قحط وو. نو داؤد د مالِک
خُدائ سره د دې په حقله خبره وکړه او مالِک خُدائ وفرمائيل، ”ساؤل او د هغهٔ خاندان
خُون کړے دے، ځکه چې هغهٔ د جبعون قبيلې خلق ووژل.“ ۲ (د جبعون خلق
اِسرائيليان نهٔ وُو، هغوئ د اموريانو ژوندی پاتې شوې يوه وړه ډله وه او اِسرائيلو دا لوظ
کړے وو چې هغوئ به ژوندی پرېږدی خو ساؤل د يهوداه او د اِسرائيل د قوم پرستئ په
وجه غوښتل چې اموريان تباه کړی.) ۳ نو داؤد د جبعون خلق راوغوښتل او هغوئ ته
يې ووئيل، ”زهٔ ستاسو دپاره څهٔ وکړم؟ تاسو سره چې کومه غلطی شوې وه نو زهٔ د
هغې تاوان درکول غواړم، نو چې تاسو د مالِک خُدائ د خلقو دپاره برکت وغواړئ.“
۴ هغوئ جواب ورکړو، ”د ساؤل او د هغهٔ د خاندان سره زمونږ لانجه په سپينو او
سرو زرو باندې نهٔ حل کېږی او نهٔ مونږ ته دا حق چې يو اِسرائيلے ووژنو.“ داؤد ترې نه
تپوس وکړو، ”نو بيا ستاسو څهٔ خيال دے چې ستاسو دپاره څهٔ وکړم؟“ ۵ هغوئ
ورته ووئيل، ”ساؤل زمونږ داسې تباه کول غوښتل چې د اِسرائيل په مُلک کښې زمونږ يو
کس هم ژوندے پاتې نهٔ شی. ۶ نو د هغهٔ د اولاد نه اووهٔ نران مونږ ته حواله کړه او

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

مونږ به يې په جبعه کښې د مالِک خُدائ په وړاندې ووژنو او ځوړند به يې کړُو، چې هغه
د مالِک خُدائ د خوښ کړے شوی بادشاه، ساؤل ښار دے.“ نو بادشاه ورته وفرمائيل،
”زۀ به هغوئ تاسو ته حواله کړم.“ ۷ خو د مالِک خُدائ په نوم د هغه قسم په وجه
چې هغۀ او يونتن د يو بل سره کړے وو، داؤد مفيبوست ژوندے پرېښودو، مفيبوست د
ساؤل نمسے او د يونتن زوئ وو. ۸ خو هغۀ ارمونى او مفيبوست بوتلل، د ساؤل دا
دوه زامن چې د آيه د لور رِصفخ نه پېدا شوى وُو، هغۀ د ساؤل د لور ميرب پينځۀ زامن
هم بوتلل، چې د برزلى د زوئ ادرعى نه يې پېدا شوى وُو، چې هغه د محوله وو. ۹
داؤد هغوئ د جبعون خلقو ته حواله کړل، چې د مالِک خُدائ په مخکښې يې په غرۀ
باندې قتل کړل، نو ټول اووۀ واړه په يو ځائ مړۀ شول. سپرلے په ختمېدو وو او د
اوربشو لَو شروع وو، چې هغوئ ووژلے شول. ۱۰ بيا د ساؤل بله ښځه د آيه لور
رِصفخ د ټاټ کپړه واخستله چې د ځان دپاره په هغه ګټ باندې خپر جوړ کړی چرته
چې مړی پراتۀ وُو او د لَو د شروع کېدو نه واخله د خزان بارانونو د شروع کېدو پورې
هغه هلته ايساره شوه. د ورځې به هغې د مړو نه مارغان شړل او د شپې به يې دا د
ځنګلى ځناورو نه بچ کول. ۱۱ چې داؤد خبر شو چې رِصفخ څۀ کړی وُو، ۱۲ نو هغه
لاړو او په جِلعاد کښې يې د يبيس د خلقو نه د ساؤل او د هغۀ د زوئ يونتن هډُوکى
واخستل. (هغوئ دا په بيت‌شان کښې د بازار نه پټ کړی وُو، چرته چې فلستيانو لاشونه
راځوړند کړی وُو. دا په هغه وخت وُو چې په کومه ورځ هغوئ د جِلبوعه په غرۀ باندې
ساؤل وژلے وو.) ۱۳ داؤد د ساؤل او يونتن او د هغه اوو سړو هډُوکى هم يوړل چې
کوم ځوړند کړے شوی وُو. ۱۴ بيا هغوئ د بنيامين په علاقه ضِلع کښې د ساؤل پلار
قيس په قبر کښې د ساؤل او د يونتن هډُوکى ښخ کړل، هم هغه شان چې څنګه بادشاه
حُکم کړے وو. او د هغې نه پس خُدائ پاک د هغوئ د مُلک دپاره سوال قبول کړو.

## د فلستيانو خِلاف جنګونه

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۵ د فلستیانو او د اِسرائیل په مینځ کښې یو بل جنګ وشو او داؤد او د هغهٔ سړی لاړل
او فلستیانو سره يې جنګ وکړو. په يو جنګ کښې داؤد ستړے شو. ۱۶ د دېوانو د
نسل اشبیبنوب د زېړو یوه نېزه روانه کړې وه چې تقريباً درې نیم کلو وزن يې وو او
یوه نوې تُوره هم ورسره وه، د هغهٔ اراده دا وه چې داؤد ووژني. ۱۷ خو د ضرویاه زوئ
ابیشے د داؤد د مدد دپاره راغلو او په دېو باندې يې حمله وکړه او وې وژلو. بیا د داؤد
سړو د داؤد نه لوظ واخستلو چې هغه به بیا هیڅکله د هغوئ سره جنګ له نهٔ ځی.
هغوئ ووئیل، ”تهٔ د بنی اِسرائیلو دپاره لکه د رڼا اُمید يې او مونږ دا رڼا ختمېدل نهٔ
غواړُو.“ ۱۸ د دې نه پس په جوب کښې د فلستیانو سره یو بل جنګ وشو، چې په هغې
کښې د حوسی قبیلې سِبکی یو دېو ووژلو چې د هغه دېو نوم سف وو. ۱۹ د فلستیانو
سره یو بل جنګ په جوب کښې وشو او د بیت‌لحم د یائیر زوئ اِلحنان د جات جولیت
ووژلو چې د هغهٔ نېزه د کوټې د ستني په شان غټه وه. ۲۰ بیا په جات کښې یو بل
جنګ وشو چې په کښې یو دېو وو چې د هغهٔ د هر لاس او د هرې پښې شپږ شپږ ګوتې
وې. ۲۱ هغهٔ په اِسرائیلیانو پورې خندا وکړه او د داؤد ورور د سِمعه زوئ، یونتن هغه
ووژلو. ۲۲ دا څلور د جات د دېوانو اولاد وو او داؤد او د هغهٔ سړو دوئ وژلی وُو.

## د حضرت داؤد د فتحې ثناء صِفت

۲۲ ۱ کله چې مالِک خُدائ داؤد د ساؤل او خپلو نورو دشمنانو نه بچ کړو، نو
داؤد د مالِک خُدائ په ثناء صِفت کښې دا وفرمائیل، ۲ ”مالِک خُدائ زما ساتونکے
دے، هغه زما د مضبوطې قلعې په شان دے، او هغه زما خلاصونکے دے. ۳ زما
خُدائ پاک زما د حِفاظت ځائ دے. او د هغهٔ سره په حِفاظت کښې یم. هغه ما د ډال
په شان بچ کوی، هغه زما دِفاع کوی او بچ مې ساتی. هغه زما خلاصونکے دے، هغه
زما ساتنه کوی او د زور ظلم نه مې بچ کوی. ۴ زهٔ مالِک خُدائ ته سوال کوم، او
هغه مې د دشمنانو نه بچ کوی. د مالِک خُدائ ثناء صِفت دې وی. ۵ د مرګ ټولې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې زما ګېرچاپېره وې، د تباهۍ سېلاب زۀ راګېر کړم. ۶ د مرګ خطره زما نه تاو
وه، او قبر زما دپاره خپل دام خور کړے وو. ۷ په تکليف کښې ما مالِک خُدائ ته
چغه کړه، ما خُدائ پاک ته د مدد دپاره سوال وکړو. د هغۀ د کور نه هغۀ زما آواز
واورېدو. د مدد دپاره هغۀ زما فرياد واورېدو. ۸ بيا زمکه ولړزېده او وخوځېده، د
آسمان بنيادونه وخوځېدل او ودرزېدل ځکه چې خُدائ پاک غصه وو. ۹ د هغۀ د
سپېږمو نه لوګے راووتلو، او يوه تباه کوونکې لمبه او بل سکارۀ د هغۀ د خولې نه
راووتل. ۱۰ هغۀ آسمان وشلولو او لاندې راغلو، د هغۀ د پښو لاندې يوه توره تيارۀ وه.
۱۱ هغه د وزرو والا په خپل مخلوق باندې تيز والوتلو، هغۀ د هوا په وزرو باندې سفر
وکړو. ۱۲ هغۀ خپل ځان په تيارۀ کښې پټ کړو، د اوبو نه ډکه تکه توره ورېځ د هغۀ نه
ګېرچاپېره تاو شوه، ۱۳ د هغۀ په وړاندې د بريښنا نه بلو سکارو لمبه وکړه. ۱۴ بيا
مالِک خُدائ د تندر په شان شو، او د خُدائ تعالىٰ آواز واورېدے شو. ۱۵ هغۀ خپل
غشی وويشتل او دشمنان يې خوارۀ وارۀ کړل، د بريښنا د پړق سره يې هغوئ وزغلول.
۱۶ د سمندر بېخ راڅرګند شو. او د زمکې بنيادونه راښکاره شول کله چې مالِک خُدائ
خپل دشمنان ورټل او په غصه کښې په هغوئ باندې وغورېدو. ۱۷ نو مالِک خُدائ د
بره نه راورسېدو او زۀ يې ونيولم، هغۀ د ډېرو اوبو نه بهر راوويستلم. ۱۸ هغۀ زۀ د خپلو
زورَورو دشمنانو نه بچ کړم او د هغه ټولو نه چې زما نه يې نفرت کولو، هغوئ زما دپاره
ډېر زيات طاقتور وُو. ۱۹ کله چې زۀ په تکليف کښې وم نو هغوئ په ما حمله وکړه،
خو مالِک خُدائ زۀ بچ کړم. ۲۰ هغۀ زۀ د خطرې نه راوويستلم هغۀ زۀ ځکه بچ کړم
چې زما نه رضا وو. ۲۱ مالِک خُدائ ما له اجر راکوی ځکه چې زۀ هغه څۀ کوم چې
څۀ حق وی، هغه ما له برکت راکوی ځکه چې زۀ بې‌ګناه يم. ۲۲ ما د مالِک خُدائ
قانون منلے دے، زۀ د خُدائ پاک نه نۀ يم اوړېدلے. ۲۳ ما د هغۀ ټول قوانين منلی
دی، ما د هغۀ د حُکمونو نافرمانی نۀ ده کړې. ۲۴ هغۀ ته پته ده چې زۀ صفا يم، ځکه
چې ما ځان د ګناه نه ساتلے دے. ۲۵ او هغه ما له ځکه اجر راکوی چې هغه څۀ کوم
چې صحيح وی. ځکه چې هغۀ ته پته ده چې زۀ بې‌ګناه يم. ۲۶ مالِکه خُدايه، تۀ د هغه

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خلقو سره وفادار يې چې څوک ستا وفادار وی، او چې څوک ښۀ وی نو تۀ د هغوئ
سره ښۀ يې. ۲۷ چې څوک صفا خلق وی نو تۀ د هغوئ سره صفا يې، خو تۀ د بدعملو
سره سخت يې. ۲۸ تۀ هغه څوک بچ کوې چې څوک عاجز وی. خو تۀ هغه څوک
عاجزان کوې چې څوک مغرور وی. ۲۹ مالِکه خُدايه، تۀ زما رڼا يې، تۀ زما تيارې لرې
کوې. ۳۰ تۀ ما له طاقت راکوې چې په دشمن حمله وکړم او طاقت راکوې چې د
هغوئ په دېوالونو باندې ورواوړم. ۳۱ دا خُدائ پاک دے، چې د هغۀ کارونه څومره
مکمل دی، د هغۀ کلام څومره اعتباری دے. هغه د ډال په شان دے د هغه هر چا دپاره
دے چې څوک يې پناه لټوی. ۳۲ مالِک خُدائ يواځې خُدائ پاک دے خُدائ پاک
يواځې زمونږ د پناه ځائ دے. ۳۳ دا خُدائ پاک زما مضبوط د پناه ځائ دے، هغه
زما لاره سموی. ۳۴ هغه ما د هوسۍ په شان تېزوی. هغه ما په غرونو کښې په حِفاظت
کښې ساتی. ۳۵ هغه ما له د جنګ تربيت راکوی، نو چې داسې زۀ د ټولو نه مضبوط
غشے اوچلوم. ۳۶ مالِکه خُدايه، ما بچ کړه او زما حِفاظت وکړه، ستا د مدد په وجه
زۀ تکړه شوے يم. ۳۷ تا زما دپاره لار پراخه کړې ده، نو ځکه زما پښې کله هم نۀ دی
ښوئېدلې. ۳۸ زۀ په خپل دشمن پسې ځم او شکست ورکوم، تر هغې پورې نۀ ودرېږم
چې تباه کړې مې نۀ وی. ۳۹ زۀ هغوئ وغورزوم او هغوئ پاڅېدے نۀ شی، هغوئ زما
د پښو لاندې پرېوتی وی. ۴۰ تۀ ما له د جنګ دپاره طاقت راکوې او په خپلو دشمنانو
باندې فتح راکوې. ۴۱ تۀ زما نه زما دشمن زغلوې، او چې څوک زما نه نفرت کوی نو
هغه تباه کوم. ۴۲ هغوئ د مدد دپاره وکتل، خو هيچا هم هغوئ بچ نۀ کړل، هغوئ
مالِک خُدائ ته فرياد وکړو، خو هغۀ جواب ورنۀ کړو. ۴۳ ما هغوئ مېده کړل او
هغوئ د خاورې په شان شول، د کوڅې د خاورې په شان ما په هغوئ پښه راښکله. ۴۴
تا زۀ د خپلو سرکشو خلقو نه بچ کړم او زما بادشاهی دې په قومونو باندې په خپل ځائ
وساتله، کوم خلق چې ما نۀ پېژندل هغوئ زما د بادشاهۍ لاندې راغلی دی. ۴۵ مسافر
زما په وړاندې ټيټېږی، کله چې هغوئ زما نه خبر شی، هغوئ زما تابعداری کوی. ۴۶
هغوئ خپله حوصله بائيلی او د خپلو محفوظو ځايونو نه په رېږدېدو راځی. ۴۷ مالِک

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خُدائ ژوندے دے. زما د حِفاظت کوونکی ثناء صِفت دې وی. د هغه تکړه خُدائ پاک
د لوئ اِعلان وکړئ چې هغۀ زۀ بچ کړم. ۴۸ هغه ما له په خپلو دشمنانو باندې فتح
راکوی، هغه قومونه زما لاندې راولی ۴۹ او هغه ما د خپل دشمن نه بچ کوی. اے مالِکه
خُدايه، ما له په خپلو دشمنانو باندې فتح راکړه او ما د ظالمانو سړو نه بچ کړه. ۵۰ نو
چې په قومونو کښې زۀ ستا ثناء صِفت وايم، او زۀ به ستا د نوم ثناء صِفت بيانوم. ۵۱
خُدائ پاک خپل بادشاه له فتحې ورکوی، هغۀ چې څوک خوښ کړے دے نو هغۀ ورته
خپله مستقله مينه ښودلې ده، داؤد او د هغۀ اولاد ته يې هميشه ښائی."

## د حضرت داؤد آخری خبرې

**۲۳** ۱ د يَسی زوئ داؤد هغه سړے وو چې خُدائ پاک ورله شان او شوکت
ورکړے وو، چې د يعقوب خُدائ پاک هغه د دې دپاره خوښ کړو چې بادشاه شی او
هغه د بنی اِسرائيلو دپاره مشهور ثناء خوان هم وو. د داؤد آخری خبرې دا وې: ۲ "د
مالِک خُدائ روح زما په ذريعه خبرې کوی، د هغۀ پيغام زما په ژبه دے. ۳ د بنی
اِسرائيلو خُدائ پاک فرمائيلی دی، د بنی اِسرائيلو حِفاظت کوونکی ما ته فرمائيلی دی،
"هغه بادشاه چې په اِنصاف سره بادشاهی کوی، کوم چې د خُدائ پاک په يره کښې
بادشاهی کوی، ۴ هغه داسې دے لکه چې بې‌وريځو سحر کښې نمر پړقيږی، هغه نمر
چې د باران نه پس واښۀ څلوی." ۵ نو داسې به خُدائ پاک زما اولاد له برکت
ورکړی، ځکه چې هغۀ زما سره د تل دپاره لوظ کړے دے، يو داسې لوظ چې هغه به نۀ
ماتيږی، يوه وعده چې نۀ به بدليږی. زما بلکل هم دغه خواهش دے، دا به زما خلاصون
وی، او بې‌شکه خُدائ پاک به داسې وکړی. ۶ خو بد کاره خلق د غورزولے شوو
ازغو په شان وی، چې هيڅ څوک يې هم په خالی لاسونو سره نۀ شی راخستلے. ۷ تۀ
به د دې دپاره د اوسپنې آوزار يا د نيزې نه کار اخلې، هغوئ به بېخی وسوزولے شی."

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د حضرت داؤد مشهور فوجيان

۸ د داؤد د مشهورو فوجيانو نومونه دا دی: وړومبے د تحُکمون يوشيب بيشبت وو،
کوم چې د درېو مشر وو، هغۀ د خپلې نېزې سره د اتو سوو خِلاف جنګ وکړو او هغوئ
ټول يې په يو جنګ کښې ووژل. ۹ د هغه درېو مشهورو نه دويم د اخيو د قبيلې د دودو
زوئ اِليعزر وو. يوه ورځ چې فلستيان راغونډ ؤُو نو هغۀ او داؤد ورته وفرمائيل چې
زمونږ سره جنګ وکړئ. نو اِسرائيليان ټول وتښتېدل، ۱۰ خو هغه ټينګ شو او د
فلستيانو سره يې تر دې پورې جنګ وکړو چې لاس يې کار پرېښودو او خپلې تُورې له
يې نۀ شو وروړلے. مالِک خُدائ په هغه ورځ باندې لويه فتح ومونده. کله چې دا ختم
شو، نو اِسرائيليان اِليعزر له راواپس شول او د مړو دشمنانو نه يې زغرې وويستلې. ۱۱
د هغه درېو مشهورو نه يو د حرار د اجی زوئ سمه وو. فلستيان لحی کښې راغونډ شوی
ؤُو چرته چې د دالو يو پټے وو. اِسرائيليان د فلستيانو نه وتښتېدل، ۱۲ خو سمه په پټی
کښې ټينګ شو، د دې حِفاظت يې وکړو او فلستيان يې ووژل. مالِک خُدائ په هغه ورځ
باندې لويه فتح ومونده. ۱۳ لَو شروع کېدو ته په نزدې وخت کښې د هغه دېرشو کسانو
نه درې د عدولام غار ته لاړل، چرته چې داؤد وو، په دې وخت کښې د فلستيانو فوج د
رفائيم په وادئ کښې خيمې لګولې وې. ۱۴ په دې وخت کښې داؤد په يو محفوظ ځائ
کښې وو او د فلستيانو يوې قبيلې بيت‌لحم قبضه کړے وو. ۱۵ داؤد ډېر زيات تږے وو
او وې فرمائيل، ”زما ډېر ارمان دے چې څوک د بيت‌لحم د دروازې سره کوهی نه ما له
څښلو له لږې اوبۀ راوړی.“ ۱۶ هغه درې مشهور فوجيان د فلستيانو کيمپ ته ورننه
شول، د کوهی نه يې اوبۀ راوويستلې او داؤد له يې راوړې. خو هغۀ دا ونۀ څښلې، او د
څښلو په ځائ يې مالِک خُدائ ته د نذرانې په توګه توئ کړې. ۱۷ او وې فرمائيل،
”مالِکه خُدايه، زۀ دا هيڅکله نۀ شم څښلے. دا به داسې وی لکه چې زۀ د دې سړو وينې
څښم چا چې خپل ژوند په خطره کښې واچولو.“ نو هغۀ د دې څښلو نه اِنکار وکړو. دا
د هغه درېو مشهورو فوجيانو د بهادرئ کارنامې وې. ۱۸ د يوآب ورور ابيشے چې د

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغۀ مور ضرویاه وه د هغه ډېرشو مشر وو. هغۀ د خپلې نېزې سره د درېو سوو سړو
خِلاف جنګ وکړو او وې وژل او د دې په وجه هغه د هغه درېو کسانو په شان مشهور
شو. ۱۹ نو هغه د هغه درېو نه زیات عزتمند شو او د هغوئ مشر شو، خو هغه په هغه
درېو کسانو کښې شمېر نۀ وو. ۲۰ د یهویدع زوئ بنایاه یو بل مشهور فوجی وو او دے
د قبضئیل اوسېدونکے وو، هغۀ ډېرې د بهادرئ کارنامې وکړې چې په کښې د هغه دوو
لویو موآبیانو جنګ کوونکو وژل هم شامل وُو. یوه ورځ چې واوره ورېدله هغه کندې ته
کوز شو او یو زمرے یې ووژلو. ۲۱ هغۀ یو مِصرے هم ووژلو، یو غټ سړے چې نېزه
ورسره وه. بنایاه په هغۀ باندې د امسا سره حمله وکړه، د مِصری د لاس نه یې نېزه
واخستله او په دې باندې یې ووژلو. ۲۲ دا د هغه بنایاه کارنامې دی چې د هغه درېو
تکړه فوجیانو په شان مشهور شو. ۲۳ هغه په ټولو کښې ښۀ تکړه وو، خو هغه په هغه
درېو کښې نۀ شو شمېرلے. داؤد هغه د خپلو محافظانو مشر مقرر کړو. ۲۴-۳۹ په هغه
ډېرشو کښې نور دا کسان شامل وُو، د یوآب ورور عساهیل، د بیت‌لحم د دودو زوئ
اِلحنان، د حرود اِلقه او سمه، د فِلط نه خلص، د تقوع نه د عقیس زوئ عیرا، د عنتوت
نه ابیعزر، د حوسی نه مبونے، د اخوحی نه ضلمون، د نطوفی نه مهری، د نطوفی د بعنه
زوئ حلب، په بنیامین کښې د جبعه ریبی زوئ اِتے، د فِرعاتون نه بنایاه، د جعس د
وادیانو سره نزدې نه هدی، د عرباه نه ابی‌علبون، د بحوریم نه عزماوت، د سعلبون نه
الیخبه، د یسین زامن، یونتن، د حرار نه سمه، د حرار نه د سرار زوئ اخی‌آم، د معکه د
احسبی زوئ الیفلط، د جلو نه د اخی‌تُفل زوئ الی‌عام، د کرمل نه حصرو، د عرب نه
فعری، د ضوباه د ناتن زوئ اِجال، د جاد نه بانی، د عمون نه صِلق، د یوآب زغره
وړونکے د بیروت نحری، د اِتری نه جریب او عیرا، او اورِیاه حِتے. دا ټول هغه اووۀ
ډېرش مشهور فوجیان وُو.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د حضرت داؤد مردم‌شماری

۲۴ ۱ مالِک خُدائ بنی اِسرائیلو ته یو ځل بیا غصه شو او د داؤد په ذریعه یې په
هغوئ مصیبت راوستلو. مالِک خُدائ هغهٔ ته وفرمائیل، ”لاړ شه او د اِسرائیل او د
یهوداه خلق وشمېره.“ ۲ نو داؤد د خپل لښکر مشر یوآب له حُکم ورکړو، ”د خپلو
آفسرانو سره د بنی اِسرائیلو ټولو قبیلو ته لاړ شه د یو سر نه تر بل سره پورې وګرځه او
خلق وشمېره. زهٔ دا معلومول غواړم چې هغوئ څومره دی.“ ۳ خو یوآب بادشاه ته
ووئیل، ”بادشاه سلامت، مالِک خُدائ ستا خُدائ پاک دې بنی اِسرائیلیان د اوس نه یو
په سل نور هم زیات کړی او ژوندے اوسې چې تهٔ یې وګورې. خو بادشاه سلامت، تهٔ
داسې کول ولې غواړې؟“ ۴ خو بادشاه په یوآب او د هغهٔ په آفسرانو باندې د هغهٔ حُکم
ومنلو، هغوئ د هغهٔ د حضور نه روان شول او د بنی اِسرائیلو خلقو شمېرلو له لاړل.
۵ هغوئ د اُردن سیند نه واوړېدل او د عروعیر جنوبی طرف ته یې خیمې ولګولې، دا
ښار د جاد په علاقه کښې د یعزیر د وادۍ په مینځ کښې وو، ۶ او د حِتیانو په علاقه
کښې جِلعاد او قادِس ته روان ؤو. بیا هغوئ دان ته لاړل او د دان نه هغوئ نمرپرېواتهٔ
طرف صیدا ته لاړل. ۷ بیا هغوئ جنوبی طرف ته د پَخو دېوالونو ښار صور ته لاړل او
هم هغسې د حِویانو او کنعانیانو ټولو ښارونو ته هم لاړل او په آخر کښې د یهوداه په
جنوبی برخه کښې بیرسبع ته لاړل. ۸ نو نههٔ میاشتې او شل ورځې پس هغوئ یروشلم
ته راواپس شول، چې په ټول مُلک کښې یې سفر کړے وو. ۹ هغوئ بادشاه له د هغه
ټولو سړو شمېر ورکړو چا چې جنګ کولے شو، اتهٔ لاکه سړی په اِسرائیل کښې او
پینځهٔ لاکه په یهوداه کښې ؤو. ۱۰ خو چې کله داؤد مردم‌شماری وکړه نو خپل ضمیر
هغه ملامته کول شروع کړل او هغهٔ مالِک خُدائ ته وفرمائیل، ”ما چې څهٔ کړی دی نو
دا مې یوه سخته ګناه کړې ده، مالِکه خُدایه، زما غلطی معاف کړه. ما د کم عقلتوب کار
کړے دے.“ ۱۱-۱۲ د مالِک خُدائ کلام په جاد نازل شو چې داؤد ته پېشګوئې
ورکوونکے وو، ”لاړ شه او داؤد ته ووایه چې زهٔ هغهٔ له درې خوښې ورکوم او هغه دې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

په هغه درېو سزاګانو کښې يوه خوښه کړى نو زۀ به هم هغه شان وکړم.“ په ورپسې
سحر د داؤد د پاڅېدو نه پس، ۱۳ جاد هغۀ له لاړو او چې مالِک خُدائ څۀ فرمائيلى وُو
هغه يې ورته وفرمائيل او تپوس يې ترې نه وکړو، ”په دې کښې ستا کوم يو خوښ دے؟
ستا په مُلک کښې درې کاله قحط وى يا درې مياشتې چې خپل دشمن نه منډې وهې يا
چې درې ورځې ستا په مُلک وبا راشى؟ اوس په دې باندې سوچ وکړه او ما ته ووايه
چې مالِک خُدائ چا چې زۀ رالېږلے يم کوم يو جواب يوسم.“ ۱۴ داؤد جواب ورکړو،
”زۀ د نااُميدۍ په حالت کښې يم. خو زۀ دا نۀ غواړم چې ما له انسان سزا راکړى.
پرېږده چې مالِک خُدائ په خپله مونږ له سزا راکړى، ځکه چې هغه رحمان او رحيم
دے.“ ۱۵ نو مالِک خُدائ په بنى اِسرائيلو باندې يوه وبا راولېږله، چې د هغه سحر نه
واخله تر هغه وخت پورې وه چې کوم يې خوښ کړے وو. د مُلک د يو سر نه تر بل
سره پورې اويا زره بنى اِسرائيليان مړۀ شول. ۱۶ کله چې د مالِک خُدائ فرښته د
يروشلم په تباه کولو باندې وه، نو مالِک خُدائ د خلقو سزا په حقله خپله فېصله بدله
کړه او هغه فرښتې ته يې وفرمائيل کومې چې هغوئ وژل، ”بس دے، دا دومره ورله ډېر
دى.“ فرښته د يو يبوسى ارُوناه د درمند سره وه. ۱۷ داؤد فرښته وليده چې هغې خلق
وژل او مالِک خُدائ ته يې وفرمائيل، ”زۀ ګناهګار يم. زۀ هغه کس يم چا چې غلطى کړې
ده. دې عاجزو خلقو څۀ کړى دى؟ تا له په کار دى چې ما او زما خاندان له سزا
راکړې.“ ۱۸ هم په هغه ورځ جاد داؤد له ورَغلو او ورته يې وفرمائيل، ”د ارُوناه درمند
ته وخېژه او مالِک خُدائ ته يوه قربانګاه جوړه کړه.“ ۱۹ نو داؤد د مالِک خُدائ حُکم
ومنلو او چې څنګه جاد ورته وئيلى وُو هغه لاړو. ۲۰ ارُوناه لاندې وکتل او وې ليدل
چې بادشاه او د هغۀ آفسران راروان وُو. هغه د داؤد په مخکښې پړمخې پرېوتو ۲۱ او
تپوس يې وکړو، ”بادشاه سلامت، تهٔ دلته د څۀ دپاره راغلې؟“ داؤد ورته وفرمائيل، ”د
دې دپاره چې ستا درمند واخلم او مالِک خُدائ ته يوه قربانګاه جوړه کړم، دا د دې
دپاره چې وبا ودرېږى.“ ۲۲ ارُوناه ورته ووئيل، ”بادشاه سلامت، واخلئ او چې څۀ
دې خوښ وى نو هغه مالِک خُدائ ته پېش کړه. دا غوَيى دى چې په قربانګاه باندې به

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

يې د نذرانې په توګه وسوزوې، د هغوئ جغونه او د غوبل تختې دا دى چې د سوزولو د
لرګو په توګه يې استعمال کړې.“ ۲۳ اروناه هر څۀ بادشاه له ورکړل او ورته يې ووئيل،
”مالِک خُدائ ستا خُدائ پاک دې ستا نذرانه قبوله کړى.“ ۲۴ خو بادشاه ورته
وفرمائيل، ”نه، زۀ به د دې قيمت درکوم. زۀ به مالِک خُدائ خپل خُدائ پاک ته هغه څۀ
په نذرانه کښې نۀ پېش کوم چې مفت مِلاو شى.“ نو هغۀ درمند او غوَيى د سپينو زرو په
پنځوسو سيکو باندې واخستل. ۲۵ بيا هغۀ مالِک خُدائ ته يوه قربان‌ګاه جوړه کړه او
سوزېدونکې نذرانې او د سلامتۍ نذرانې يې پېش کړې. مالِک خُدائ د هغۀ سوال قبول
کړو او په بنى اِسرائيلو کښې وبا بنده شوه.

تاسو پوښتنې لرئ؟ +1 807.700.6699
pashtobibles.org © يوسفزى ۲۰۱۹
Copyrighted material not for reprint/publishing purposes.